# روغ فکرونه

## د رغنده ويناوو ټولګه

Ketabton.com

ژباړه: بهشته سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روغ فکرونه

## د رغنده ویناوو ټولګه

ژباړه: بهشته (سادات)

د لیکلو نېټه:

۱۴۰۲ 2023

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ!

ټوله د انسانيت خدمت کوونکو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم................................................ روغ فکرونه

ژباړونکې................................................ بهشته (سادات)

د لیکلو نېټه............................................... ۱۴۰۲ــــ۲۰۲۳

د پاڼو شمېر................................................۴۰ پاڼې

د پاڼو ډول................................................ A4 Standard

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د ليکوالانو نومونه | د ليکوالانو نومونه | د ليکوالانو نومونه |
|---|---|---|
| ټوني کينګ | جون رسکين | حضرت محمد( صل عليه وسلم) |
| جبران خليل جبران | الربټ هبرډ | توماش اليوت |
| ميګل سروينتيز | جون ايف | البرټ ګاما |
| ستيفن کووي | الربټ هبرډ | هربټ سپنسر |
| لارينس ډوريل | چارلز بکاوسکي | سانتيايانا |
| مهاتما ګاندي | اورهان پاموک | ډکارټ |
| جورج اوريل | علامه اقبال لاهوری | جان لاک |
| پابلو پيکاسو | سامرسټ موام | برتراند راسل |
| سيدجمال الدين افغاني | جان ايف کيندي | ناپليون بناپارت |
| بسمارک | نيلسن منډيلا | ابوالعلا معری |
| ماکسيم ګورکي | هيچکاک | ان ويلسن سکف |
| هاروي سنګ | پابلو کازاف | ګوستاو لوبون |
| **مولانا جلاالدين محمد بلخي** | نن لوبرسيت | کريستو فرمورلي |
| ډيل کارنګی | لامارتين | جورج اپنس |
| ساموېل سمايلز | تامس جفرسن | جورج برنارډ شاو |
| مردولا اګروال | اناتول فرانس | تولستوي |
| کيم وو چونګ | جيلبر برون | کار ايل |
| باربارادي انجلس | کارلوس کاستاندا | کار لايل |
| ګابريل ګارسيا مارکز | هنري توريو | محمد حافظي |
| ميتر لينګ | بليز پاسکال | جورج هربرت |
| جوجيا او کيف | جورج کلارسن | مارسل پروست |
| جيم بيشوپ | سکار وايلډ | ويليم تن |
| برايان ټريسي | هوارد فاست | ليوتو سکاليا |
| الفرډ روزنبرګ | کټرينګ | ويل ډورانت |
| مارک ټواين | مارلون براندو | ويکتور هوګو |
| لوپ دووک | جورج واشنګټن | لارډ اويبوري |
| اليک بورن | ويليام شکسپير | ګوستاو لوبون |
| کنفوسيوس | فليپ مسينجر | دوروستان |
| برنارډ شاو | بوذر جهمر | لايو تزو |
| کوروش | ډاکتر مارډن | بنجامين فرانکلين |
| محمد حجازی | انتوان چخوف | ژان ژاک روسو |
| ويو کاناندا | شوپنهاور | انتوني رابينز |
| بودا | توماس مکولر | جورج باني |
| ژول سيمون | اسکار وايله | الين چانګ |
| ويسټون چرچيل | لويي اګاسيز | سپانويلی |
| والډو امرسون | ګابريل ګارسيا مارکز | ديمقراطيس |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم.

له هغو خلګو سره مینه وکړئ چي له تاسو سره مینه کوي، او له هغو سره بیخي ډیره چي له تاسو پرته خوشحاله نه سي اوسیدای.

موږ تل د غوره اشخاصو په لټه کي يو، خو دا موهيره کړي ده چي خپله غوره واوسو.

هیڅکله د چا پر احساساتو لوبي مه کوئ، ښايې لوبه وګټئ خو هغوي به دتل لپاره د لاسه ورکړئ.

دهر ګل ترڅنګ اغزي وي.

ځيني وخت باید له خلګو سره اړیکه پري کړي، په دي خاطر نه چي تاسو ددوي پروا نه لري، بلکه په دي خاطر چي دوي ستاسو پروا نه لري.

یوازیتوب له بدو ملګرو ښه دی، او ښه ملګري تر یوازیتوب.

ځيني خبري روغ زړونه ماتوي، او ځيني خبري مات زړونه رغوي.

دوه شیان د تل لپاره هیر کړئ، لومړئ: خپل ښه چی له خلګو سره موکړي دي. دوهم: دخلګو بد چي در رسولي يي دي.

که ژوند کول غواړئ نو د توپ په څیر واوسي، څومره چي کلک پرمځکه لګیږي،هغومره پورته ټوپ وهي.

ونه د خپلو ريښو په ډاډ پورته خيژي.

ژبه هډوکئ نه لري، خو دومره زوروره ده چي په یوه ورځ کي سلګونه زړونه ماتولاې سي.

انسان د عکس په څیر دی، څومره چي يي لوې کړی په هغه اندازه خپل کيفيت دلاسه ورکوي.

سکوت هغه ژبه ده چي ډير لږ خلګ په پوهيږي.

باران پر ټولو خلګو یوشان اوري،خو هغه لمدوي چي ځان نه پټوي.

نوښت د خداي(جل جلاله) ډالي ده، خو له نوښته استفاده بیا خدای ته ډالئ ده.

هیچا ته مو دستونزو په اړه مه وایئ شل سلنه خلګ مو د ستونزو هیڅ پروا نه لري، او اتیا سلنه خلګ مو بیا پر ستونزو خوشحاله کیږي.

ښه پریکړه له تجربي او تجربه له غلطي پریکړي رامنځته سوې ده.

مینه پیسي نه دي چي سپما سي، مینه عطر دي چي باید له بويه يي ټول خوند واخلي.

د یوبل موندل هنر نه دی، هنر دادئ چي یوبل ورک نه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیر هیر کړي هغه یو لنډ څپرکئ و، نه ټول کتاب.

د زړونو تر منځ واټن مهم نه دی، خو چي زړونه یو بل ته وفاداره وي.

دامه هیروئ چي پررون تاریخ، نن ډالي او سبا معما ده.

تل د خلګو دخوښئ لامل سې نه شریک، تل دخلګو دغم شریک سې نه لامل.

ښه ژوند په دوو جملو کي تعریفولاې سو، پر ښو شیبو خوند اخیستل،او پر بدو شیبو صبر کول.

په هره سالمه اړیکه کي دغه جملې ډیرې اوریدل کیږي، مینه درسره لرم!مننه!بخښنه غواړم!!!

د عشق سفر له خطرونو، توپانونو او ستړیاوو ډک دی، خو د دوستي سفر بیا له هوسایني، خوند، عزت اومیني. عشق دوکه او چم دی، خو دوستي بیا صداقت او صمیمیت دی. عشق له انسانه لید اخلي، خو دوستي بیا ژور لید ورکوي.عشق شک دی، خودوستي سل په سلو کي باور دی. عشق اور دی چي معشوقه اوعاشق دواړه سوځي، خو دوستي بیا جاذبه ده چي دوست دوست ته رسوي.عشق له شهوته او دوستي له محبته خالي نه ده.

ټول خلګ په خوشحالي پسي منډئ وهي خو دوې په دي نه دي خبر چي خوشحالي په دوي پسي منډئ وهي.

ونې هڅکله مرغانو ته له فنا ورکولو انکار نه دی کړئ، تاسو هم مهربانه واوسې مهرباني سخت کار نه دی.

بریا دوه قانونه لري لومړئ: هڅکله مه تسلیمیږئ، دوهم: لومړئ قانون مه هیروئ.

ښکلي څهره زړیږي ښکلئ اندام ښه نه پاتی کیږي، خو یو ښه انسان کیدای سي همیش ښه وي.

مینه رومانتیک کیدلو ته نه وایي، مینه داده چي تر وروستي سلګئ دهغه چا زړه وساتي چي خوښیږي دي.

ځیني وخت څو شیبي سکوت یو کتاب خبرې وي.

دوستي زړو اسنادو ته ورته ده، څومره چي زاړه وي هغومره یې ارزښت ډیر وي.

هر سړئ ته دنړئ هومره شتمني شته خو د لاسته راوړلو لپاره یې یوې کلي ته ضرورت سته همت.

په ځواني کي موږ په ستونزو پسي روان یو، خو په بوډاتوب کي بیا ستونزي په موږ پسي منډئ وهي.

څوک چي څومره پر نورو بدګومانه وي، په هغومره اندازه پرځان هم بد ګومان کوي.

یو نیالګئ د ځنګله پیل دی، یوه موسکا دمیني پیل دی، د یو تینګ لاس ورکول دیوې کلکئ دوستئ پیل دی، په تیاره کي دیوې شمعي روښانه کول درڼا پیل دی، او یوه هیله روح ته ارام وربخښي.

ښه انسانان لکه انځور سوي ګلان، دغوړیدو لپاره د لمر وړانګو او دباران څاڅکو ته اړتیا نه لري.

اندیښنه مه کوئ چي دباندي څنګه ښکاري، یو څوک سته چي ستا زړه ویني، هغوې چي ستاسو په اړه باندیني پریکړه کوي، همداسي د باندي ښه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مو له ستونزو مخ واړاوه، ستونزي به مخ درواړوي.

د درد پټول قهرماني اود کلک استقامت نښه ده.

چیرته چي د چا فریاد نه اوریدل کیږي هلته سکوت تر ټولو ښه فریاد دی.

څوک چي فکري ښکلا ولري، دبدن ښکلا چاته نه ښي.

په کومه ټولنه کی چی د ښځو د ښایست او د نارینه وو د شتمني له امله درناوې کیږي، هغه ټولنه د زوال پر لور روانه ده.

لوی زړونه مینه او لوړ احساسات زیږوي.

ژوند د لوړو او ژورو یوه ټولګه ده، په لوړو کي غرور مه کوه، په ژورو کي همت له لاسه مه ورکوه.

له هیچا سره ددوستي تارونه مه شلوې، د وخت او مطلب ملګري به مو په خپله پریږدي.

د ښه ژوند لپاره تیر مهال له افسوس پرته ومنه، او اوس په خوښي ژوند وکړه، راتلونکئ ته له تشویش پرته چمتو اوسه.

هره تیروتنه د بخښلو وړ ده، خو په دي شرط چي تیروتی پر خپلو تیروتنو اعتراف وکړئ.

ژوند کومه ستونزه نه ده چی حل سی، ژوند حقیقت دی چي باید تجربه سی.

ځیني خلګ له یوچا سره شل کاله عمرتیروي خویوه شیبه هم ورسره مینه نه کوي، ځیني خلګ بیا له یو چا سره یوشیبه عمرتیروې، خوبیا ټوله عمر ورسره مینه کوي.

خورا کمزوري ذهنونه، لږ مینه دکلونو لپاره نه سي هیرولاي.

چیرته چي عدالت نه وي منديځ دهغه چا په برخه وي چي نه رسیږي، او رسیدل دهغه چا په برخه وي منديځ نه وهي.

کله مو چي ژوند پاي ته ورسیږي، ایله به مو دا زده کړي وي، چي دوهم ځل ښه ژوند څنګه وکړو.

آسمان په ستورو بڼ په ګلانو او زړونه د دوستانو په یادولو ښکلي وي.

ژوند ته چي څومره مینه اوقرباني ورکوئ، هغومره مینه او قرباني درکوي.

سکوت او موسکا ډیري ځواکمني وسیلي دي، موسکا د ډیرو ستونزو دحل، او سکوت د ډیرو ستونزو مخنیوې کوي.

که مو تیر وخت پرملا بار کړئ ملا مو ماتوي، او که مو تر پښو لاندي کړئ غړئ به مو دنګه کړي.

صابون مو وجود او موسکا مومخ پاکوي، نو موسکا ډیره کوي چي مخ مو ښکلی وي.

ځیني خلګ مو په ناڅاپئ ډول ژوند ته راځي، په دي خاطر چي احساس کړی چي د ملګرتوب لیاقت لري، او که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه انسانان څومره سپک دي، چې خپلې خوښې د نورو په څورولو کې لټوي.

په ژوند کې د دریو شیانو زغمل ډیر ګران دي، ددې پر ځاي چي خپل حق دروسپاري، زور زیاتی درسره وکړي، کله چي پرى باور وکړې، خیانت درسره وکړي، او وروستی دا چي په زړه کې دي بلا خبري وي خو د ویلو جرأت یې ونه لرې.

پیسی کولاۍ سی چي ځینې ستونزي مو درهواري کړي، خو کار او هڅه مو د تل لپاره له ستونزو خلاصوي.

څوک چي ځان ته ډیر ګورئ، پرځان باور نه لري.

تاسو هغه وخت پشپړه ذهني ازادي لرئ، چي ستاسو په اړه د خلګو د خبرو او فکرونو اندیښنه ونه کړئ.

له ځینو خلګو سره د اړیکو پریکول ددښمني په معنا نه ده، بلکې ځان ته د درناوې په معنا دی.

ژوند ته په هرحالت کي وخاندئ، کیداۍ سي یوه ورځ مو له زوږولو ستړی شي.

خوشحاله ژوند له دریو کلمو جوړ دی، خندا، بخښنه او هیرول، وخاندئ،وبښئ او هیر یې کړئ، څو په ریښتیا ژوند وکړئ.

تجربه یوازینی ښوونکې دی، چي اول ازموینه اخلي، بیا تدریس کوي.

ښایي ونه سی کولای فوق العاده کارونه وکړئ، خو کولاۍ سی کوچني کارونه په فوق العاده توګه ترسره کړئ.

ځینې ملګرې لکه تورې وریځې هرڅومره چي ځینې لیریې کیږي، هغومره مو په مخه رڼا راځي.

دا مهمه نه ده چي چیرته روان یې، مهمه داده چي له چا سره روان یې.

ځیني وخت ژوند هغه څه نه راکوي چي موږ یې تري غواړو، پدې نه چي موږ یې لیاقت نه لرو، بلکه هغه زموږ لیاقت نه لري.

هغه خلګ چي موخه یي دخداى(جل جلاله)خدمت وي، کیداى سی ښه خلګ وي، خو هغه خلګ چي موخه یې دانسان خدمت وي، حتمی ښه خلګ دي.

هغه کسان چي له ځان سره مینه نه لري، له هغو سره دوستي بیعقلي ده.

یوه نیکه او صالحه لور، د مور او پلار لپاره نه ختمیدونکې نیکمرغي ده.

پرته له خبرو اړیکه، پرته له احترامه مینه او پرته له باوره دوام وجود نه لري.

دانسان د اوسیدلو ترټولو غوره ځای، د خلګو فکر، زړه او دعاء ده.

د فقر او بیوسئ احساس، د انسانیت له خالق سره خیانت دی.

لنډ مهاله محرومیتونه د اوږد مهاله پرمختګ پانګه ده.

ترټولو ترخه درمل، له خاین سره وفاء، له درواغجن سره صداقت او له کلک زړي سره مهرباني ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې له پاره ډېر وخت ته اړتيا ده، خو د نفرت لپاره يوه ثانيه بس ده.

کتاب،پوهه او اخلاق مو ترټولو ژمن ملګري دي.

که داسي څوک مو وليدل چي د نورو د ژوند ترخه يې خوړول، نو پوه سې چې دا په رېښتيا ژوند کوي.

څوک چي د زړه درسره مينه لري نو هڅکله مو يوازي نه پرېږدي، دوی که ستاسو د پرېښولو لپاره زر دليله ولري، بيا به هم د پاتي کېدو لپاره يو دليل پيداکوي.

مورډېر کله هغه څوک ځوروو، چي يو شيبه يې هم نشتون نه شو زغملی.

مهمه نه ده چي څومره ژوند کوئ، يو کال يوه مياشت، مهمه داده چي څنګه ژوند کوئ.

که په نړۍ کی يوازی د خپلو شخصي ګټو لپاره کار کوئ، تيروتي ياست.

عقل هغه څراغ دی، چې د قهر او جهل تياره پرې روښانه دي.

په ژوند کی ترټولو ناوړه کارونه، د ښځي دزړه ماتول اود نارينه د غرور ماتول دي.

د ځمکې پر سر يوازينۍ مخلوق مور ده، چي د انسان ټول ګناهونه بخښي.

غلا يوازی دا نه ده چي دخلګو کورونه ولوټل شي، که دروغ ووایاست رېښتينولي غلا کوئ، که تهمت وکړئ عزت او ابرو غلاکوئ او که خيانت وکړئ، مينه او باور غلا کوئ.

ټول خلګ دا هڅه کوي چي ډېري پيسی وګټي، خو هيڅوک دا هڅه نه کوي، چي خوشحاله ژوند وکړي.

غوسه تيزاب دي، در هغه چي پري شيندل کيږي، تاسو ته ډېر زيان رسوي.

هيڅکله دا مه وايئ چي ژوند درڅخه مخ اړولئ، کيدای سي تاسو ورڅخه مخ اړولئ وي.

دهغه څه خوند واخلئ چي لری يې، نه له هغه څه چي غواړئ ويې لرئ.

کله چې وصيت کوئ ښايي دي ته مو پام سي، چي يوازي تاسو پکې برخه نه لرئ.

هغه کسان چي تر تاسو خوښ دي، د هغوې ژوند اسانه نه دی، بلکی هغوې دا زده کړې دي چي څنګه له ستونزو سره مبارزه وکړی.

که غواړئ د خپلې نيکمرغي اندازه معلومه کړئ، نو خپلي موسکاوې مو وشميرئ.

ژوند سندره ده اوتاسو يې سندرغاړئ ياست، که داسندره په خوښئ زمزمه کړئ خوشحاله به وئ، او که يې تراژيدي ووايي، نود ځان په شمول به د ډيرو خلګو په شان به ستاسو سترګئ به هم له اوښکو ډکی کړي.

مهرباني تخم دی، ويې کرئ او ويې روزئ، يوه ورځ به ترې لويه ونه جوړيږي او تر سيوري لاندې به يې ستاسو په شمول ډېر نور خلګ خپله ستړيا وباسي.

پوهه دانسان د سر تاج او هوښياري يې امسا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول زده کوې چې ژوند وکړی، خو دا نه زده کوې چې ښه ژوند وکړي، ژوند کول یو عادت دی، ولې ښه ژوند کول فضیلیت دی.

که یوه ناهیلي کس ته یوه هیله ورکړې، ښايي د هغه د ژوند اتل شي.

ژوند هغه کتاب دی چې همدا اوس یې په لیکنه بوخت یاست، داسې کتاب ولیکې چې سبا یې له لوستلو خوند واخلئ.

هغه کسان چې له هیلو او امیدونو سره د ستورو پر لور مزل کوې، تر هغو کسانو هدف ته درسیدو ډیر چانس لری، چې همدا اوس د کور پر لور ناهیلې روان دي.

ترخو چې مو یوځوک پوره نه وي پیژندلې، ددوستې اوملګرتیا لاس مه ورکوئ، دغه راز هیڅکله یو ښه دوست د ناسم پوهاوې له امله له لاسه مه ورکوئ.

یوه خوږه موسکا د کلونو خپګان ته دپای ټکئ ږدي.

د کم عقلو ملګرتیا داسې ده، لکه د شرابې سره چې بحث کوې.

پیل دبریا کیلئ ده، دا کیلي په کلک هوډ او پریکنده پریکړه تر لاسه کیږي.

هیلې پر شونډو موسکا راولي، موسکا زړونو ته قوت ورکوي، او قوې زړونه نړې ابادوي.

په یو کار کې ستونزې د ناممکن په معنا نه دي، ستونزې یعنې دا چې ډیره هڅه وکړئ.

هغه کسان چې مال او دولت لري، د هغو کسانو پر پرتله چې ښه نیت لري اوغوره احساسات لري، په خلګو کې ډیر محبوبیت لري.

د ژوند یو تریخ حقیقت دادی، چې ډیر کسان له یوبله لیري دي خو د یو او بل سره مینه لری، ډیر داسی کسان هم شته، چې له یو او بل سره ډیر نږدې دي خو زړونه یې له یو بله د کرکې او نفرت له امله ډیر لیرې دي.

عقل ته غوږ ږده، خبرې یې منه او دوسلې په څیر یې د ځان سره ساته.

مینه که انسان ته د ګل په څیر وده ورکوې، نو د نازکو څانګو په څیر یې ماتوې هم.

د ژوند پیل له زیږون نه، بلکئ له بدلون پیلیږي.

ژوند له مختلفو کړیو جوړ ځنځیر دی، په دې کړیو کې ترټولو غوره کړئ دغم او اندیښنو کړئ ده،دا کړی تاسو په اوسنیو ترخو اوسختو حالاتو کې دقناعت درس درکوي، اوپه راتلونکي کې درسره دخوشحالی ژمنه کوي.

مینه یوه روحاني پوهه ده، چې له برکته یې هغه مرموز شیان لیدل کیداي سی، چی عادي خلګ یې له لیدلو توان نه لري.

جالبه ده، انسانان د قوانینو په جوړولو او پلې کولو دومره نه خوشحالیږي، څومره چې یې په ماتولو خوشحالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نارینو غیرت اوهمت دهغو د میرمنو د موسکا او خوشحالیو په اندازه دی.

که هر څومره وخاندئ اوموسکا وکړی، د مینې له دنیا موڅه نه کمیږي، بس وخاندئ او مینه وکړئ، ترڅو مو نور خلک ترڅنګ خوشحاله وي.

هیڅ نوښت ته دي په کمه سترګه مه ګوره، که څه هم هرڅومره درته بی ارزښته ښکاره شي.

که مو زړونه سره نږدي وي نو ترمنځ مو غرونه واټن هم توپیر نه کوي، خو ویره له دي پکار ده چي سره نږدي وئ، خو نفرت اوکینې مو ترمنځ غرونه واټن پیداکړئ وي.

ژوند سخت دی، خو تاسو په هوساینې سره دوام ورکړئ.

د بریا پر لور یوه نه بلکئ څودروازې پرانستل شوې دي، خو زموږ لویه تیروتنه داده چي کله یوه دروازه مو پرمخ وتړل سي، نو دبلې دروازي پرلور یو ګام هم نه اخلو، بس دتړلې دروازي مخې ته اوښکي تویوو.

انسان چي ډوب شي حتماً مري، هغه که په اوبو کي ډوبیدل وي، که په درواغو، عیش، وحشت، بخل، کینه او یا هم په انتقام کي وي.

ډیر خلک ښه ژوند ته درسیدو په هیله، ښه ژوند له لاسه ورکوي.

خلک به دي په خبرو باندې خاندي، وروسته به بیا هماغه خلک پوښتنه درنه کوې، ولې خبرې نه کوې؟ دا په دنیا کي ترټولو د خندا وړ ننداره ده.

د داسې چا پیداکول سخت کار نه دی، چې درته ووایې مینه درسره لرم، خو دداسې کس پیداکول ګران کار دی، چي دا خبره په عمل کې درته ثابته کړي.

له یوازیتوبه ومرئ، خو د داسې چا ملګرتوب مه کوئ چي په ملګرتوب نه ارزي.

دوښمنان مو د کم عقلو دوستانو په مرسته خپلو موخو ته رسیږي.

نیکمرغه انسان هغه دی،چي دنورو فضلیت ته احترام ولري، او د نورو له خوښیو خوند واخلي.

ترټولو بده شکنجه هغه ده، چې له یوچا سره مینه کوې، او هغه له تا کرکه کوې.

له خولې تر ذهنه یوټکئ واټن دی، تر هغه مو چې ذهن نه وي خلاص کړئ، خوله مو مه خلاصوئ.

د خلګو شخصیت د هغو له کړنو اوچلند نه قیاس کړئ، نه دهغوې د خبرو او لاپو.

که د هغه کس په لټه کي یاست چي په ژوند کي مو بدلون راولي، نو په هینداره کي وګورئ.

نیکمرغي دا نه ده، چي په ژوند کي هیڅ ستونزه ونه لرئ، نیکمرغي داده چي د ستونزو پر وړاندې د مقابلې ځواک ولرئ.

که څوک د اړتیا په وخت کې درته ودریږي، مه په غوسه کیږي، ځکه تاسو هغه ډیوه یاست چي په تیارو کي د خلګو ذهن ته ورځئ.

که غواړئ چي د ملګرو او دوستانو سره اوږده اړیکه تجربه کړئ، نو هیڅکله درواغ ورته مه وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژوند کې ده څېزونه په سختئ موندل کيږي، ريښتينې مينه او وفاداره ملګري.

کله چې په ژوند کې له بدې پيښې سره مخ کيږئ، نو دکتاب پاڼئ واړوئ او نوئ څپرکئ پيل کړئ.

تونلونه دا په ډاګه کوې، چې د ډېرو په منځ کې هم د تګ راتګ لارې جوړيداي شي.

کله چې څوک درته وايي داکار ناشونې دی، په ياد ولرئ، چې يوازې د هغه لپاره ناشونی دی، نه ستاسو لپاره.

بريالی خلک په دې هڅه کې دي چې څنګه له نورو سره مرسته وکړي، خو عادې خلک بيا وايي، دا په ما پورې اړه نه لري.

خيانت تل د باور په اوج کې رامنځته کيږي.

ځينې وخت هغه څه چې غواړئ نه درکول کيږي، انديښنه مه کوئ کيداي سی تر هغه ښه درکول سي.

که د يو چا په اړه نه پوهيدئ، ترې وپوښتې، که دنظر مخالفت ورسره لرئ بحث ورسره وکړئ، که کومه ستونزه ورسره لرئ ښکاره ورته ووايايست، خو هيڅکله يې په اړه دريم کس ته مه واياست.

هغه کسان چې ستاسو د غوسه کولو هڅه کوې، په حقيقت کې غواړئ کنټرول مو کړي،هيچا ته دا اجازه مه ورکوئ چې کنټرول مو کړی، په تيره هغو کسانو ته چې قصداً دا کار کوي.

د داسې کس په لټه کې مه اوسئ چئ ټولې ستونزې مو حل کړي، بلکې داسې کس ولټوئ چې پرې نه ږدي په يواځې ځان مو ستونزې حل کړئ.

غرور وايې ناشونې دی، تجربه وايي خطرناکه دی، عقل وايې بې ګټې دی، خو زړه بيا وايې يوځل يې بيا امتحان کړه.

انسان دبل د اوښکو په ارزښت هغه وخت پوهيږي، چې کله يې خپلې اوښکې په ګريوان تويې شي.

هغه څوک چې درواغ درته وايي، هيڅکله باور مه پرې کوې، او هغه څوک چې باور دربانديې کوې هيڅکله درواغ مه ورته واياست.

ښايي زموږ درد د نورو لپاره دخندا دليل شي، خو بايد هيڅکله زموږ خندا دنورو د درد دليل نه شي.

که مو دچا د راز کوچنې برخه ښکاره کړه، نو باورئ اوسئ چې پاتې برخه يې هم نه شي ساتلای.

ښايي ډيري ستونزي مو حل شوې وای، که مو دا زده کړئ وای، چې له خلکو سره خبرې کول ښه دي، نه په خلکو پسې.

ژبه کولاې شي چې حقيقت پټ کړي، خو سترګې بيا دا کار نه شي کولاې.

هغه غم چې خلک يې په سکوت تيروي ترهغه غم درووند دی، چې خلک يې په چغو او فرياد تيروي، خو برعکس خلک د هغه چا غم درک کوي چې چغې او نارې وهي.

ځينې خلک هيڅ سپکه او بده خبره نه شي زغملای، خو له تا هيله لري چې ويې زغمې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیری وخت ددې لپاره سکوت کوو چې دومره ځوریدلي یو چې نه غواړو څه ووایو، ځینې وخت بیا ځکه سکوت کوو چې واقعاً د ویلو لپاره څه نه لرو.

تر ټولو غمجنې شیبې له هغه چا سره تجربه کوو، چې ترټولو خوږې شیبې مو ورسره تجربه کړې وي.

په اوبو کې لوبیدل ډوبیدل نه دي، بلکې تر اوبو لاندې پاتې کیدل ډوبیدل دي.

که دې خپل درد احساس کړ ژوندئ یې، او که دبل درد دې احساس کړ انسان یې.

که ستونزې ونه ګالې زړور کیدای نه شې، که تیروتنه ونه کړې هوښیار کیدای نه شې او که ماتې ونه خورې هیڅکله بریالې کیدای نه شې.

لوې خلګ لوړ قد، لوړې ودانۍ، ډیر مال او شتمنې نه لري، بلکې لوې زړونه لري.

حتا د ښو خلکو زغم هم اندازه لري.

پنځوس سلنه خلک دي چې د ویلو لپاره ډیر څه لري خو خبرې نه کوي، او پنځوس سلنه خلک دي چې د ویلو لپاره هیڅ نه لري خو تل خبرې کوي.

د دوښمن خبرې مو له یاده وباسې، خو د دوست سکوت هیڅ وخت مه هیروئ.

د بریا لپاره کوم خاص فورمول نسته، خو د ماتې یو فورمول دادئ چې ټول خوشحاله وساتې.

ګدایي ټوله بده ده، خو ترټولو بده یې چاپلوسي ده.

د احمقانو ذهن سترګو ته ورته دی، سترګو ته چې څومره نور(روښنایي)ورکوې هغومره کوچنې کیږي.

د پټ په پرتله مو شخصیت ته ډیر پام وکړئ، شخصیت مو د وجود جوهر دی، او پټ ستاسو په اړه د خلګو خیالات دي.

باران شه ووریږه، دا مه پوښته چې د چا پیاله تشه ده.

درې لاملونه دي چې خلګ خبرې درپسې کوي، لومړئ: هغه ستا په څیر شان او شوکت نه لرې، دوهم: هغه څه چې ته لرې هغه دوې نه لري، دریم: دا چې غواړئ ستا د ژوند تقلید وکړي خو نه یې شې کولای.

وفاداري بده نه ده، خوچې کله وفاداره پاتې کیږې نو یوازې کیږي.

یوازیتوب بد او تریخ دی خو که داسې کسان له لاسه ورکړې، چې احترام دې نه کوې او نه دې په احساساتو پوهیږي، نو ګټه به وکړئ نه زیان، معنا دا چې تر بعضې کسانو څلور تش دیوالونه ښه دي.

له مرګه مه ډاریږئ، له دې و ډار شې چې تاسو ژوندې وی، خو په تن کې شته انسانیت مو مړ وې.

څوک چې مینه درسره لري هغه کسان نه دي، چې هر وخت مو وینې، بلکې هغه دي چې هر وخت مو یادوي.

مینه، عاطفه او احساس د زړونو جوهرونه دي، خو نفرت، بدبینې اوجنایت د زړونو قاتلان دي.

هره شپه د یو ښه خوب د لیدو په هیله ویده شې، او که نه داسې خوبونه خو فیلان هم کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند د ځینو شیبو ارزښت د ټول ژوند په اندازه وي.

درک او احساس انساني ځانګیرنې دي، مینه، عاطفه او بشر دوستي هغه ستر ارزښتونه دي چې د انسانیت مانۍ ورباندې ولاړه ده.

ځیني وخت له لیندۍ څخه وتونکۍ غشي په خطاء ځي، خو ددې معنا دا نه ده، چې غشی به مو هیڅکله په نښه ونه لګیږي.

که په دې فکر کې یاست چې خلک به ستاسو په اړه څه فکر کوې، نو یا له هغو خلګو څخه ویریږې، او یا هم پر ځان باور نه لرې.

داسې خبرې وکړۍ چې تر سکوت یې ارزښت ډیر وي، او داسې ملګرۍ وټاکۍ چې تر یوازیتوب یې ارزښت ډیر وې.

که د خلګو د پوهې، اخلاقو او شتمنې په اړه نه پوهیږې، نو دهغوې چلند د خلګو په منځ کې وګورۍ.

کله چې دې څوک ځوروې نو مه خپه کیږه، دا د طبیعت قانون دی، کومه ونه چې خوږه میوه لري تر ټولو ډیره په ډبرو ویشتل کیږي.

د نړۍ تر ټولو لوې سمندر آرام نومیږي، نو ته هم ارام اوسه، ترڅو ته هم لوې شخص شې.

مرغه چې ژوندی وي میږیان خوري، خو چې مړ شي دمیږیانو خوراک شي.شرایط له وخت سره بدلون کوي، هیڅکله څوک مه تحقیروې، ښایي نن به ترټولو ځواکمن وې خو وخت ترتا ډیر ځواکمن دی...غرور مه کوۍ.

نیمایي وینتان مو دهغه څه په اړه اندیښنې سپینوې، چې په ژوند کې مو هیڅ نه پیښیږي.

د خلګو هوښیاري او ځواکمنتیا دهغوې له سکوته وسنجوۍ نه د هغوې له خبرو.

نړۍ دومره پراخه ده چې ټول مخلوق په کې ځای دی، ددې پرځای چې د نورو ځای ونیسې ښه داده چې خپل اصلي ځای پیداکړی.

کوچني خلک هڅه کوي چې په مشاجره کې ګټونکي شي حتی که اړیکه هم له لاسه ورکوي، خو لوې خلک بیا دا ښه بولي چې مشاجره وبایلي، خو اړیکې وساتي.

ایمان چې څومره پټ وې هومره کلک وې، مینه چې څومره ښکاره وي هغومره پاکه وي.

ترټولو سخت درد دا دۍ، چې همدرد ونه شي موندلی.

یوازې د مرګ په بستر کې ، او د زندان په پنجرو کې انسان هغه وی چې دی.

مینه موجود نه دی چې پیدا یې کړې، مینه هنر دی چې باید زده یې کړۍ.

ډیر کسان دي چې مینه راسره لري، خو په ښکاره نه سي ویلای چې مینه درسره لرم. دوی وایي، له ځان سره دې پام کوه، ځان دې پټ ساته چې ساړه دې ونه شي، ډیر کار مه کوه ستړی به شې...ددې هرې خبرې معنا داده چې مینه درسره لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني وخت فرصتونه د ناکاميو او ستونزو په بڼه ظاهريږي.

څوک چې ښه نصيحت کوي، ډيری هغه خلک دي چې په ژوند کې يې ترټولو بدې پېښې او ورځې تجربه کړې دي.

هيڅ شي ته په کمه سترګه مه ګورئ، په لاره کې يوه کوچني ډبره هم انسان رانسکورولائ شي.

ژوند مقصد نه بلکه مسير دی، خو پام مو وې چې پردې مسير ډير څه ترلاسه کوئ او ډير څه له لاسه ورکوئ.

خدايه شکر! دا هغه کلمه ده چې په ويلو يې دانسان وجود ته بی پايه مثبته انرژي ورکول کيږي.

هغه خلګ چې ډير خاندې هغوې دغم پټولو هنر زده کړی.

عجيبه نه ده؟ تر هغې چې ناروغ نه شي خلګ دې پوښتني ته نه درځي، ترڅو چې ونه ژاړې څوک دې ناز نه اخلي، ترڅو چې فرياد ونه کړي خلګ دې خواته نه درګوري، ترڅو چې د تګ قصد ونه کړي څوک دې ليدو ته نه درځي او ترڅو چې مړ نه شي خلګ دې نه بخښي.

انسان که د پرښتو په ژبه خبرې وکړي، خو چې بې ميني وې په هيڅ حساب دی.

ذهن د يو بڼ مثال لري که سم وکرل شي او سمه پالنه يې وشي، ترهغه ډير څه درکوي چې تاسو يې ترې غواړئ.

زموږ ژوند هغه وخت ارزښت پيداکوې، چې د نورو په خدمت کې وي.

که دې شتمني له لاسه ورکړه بايلونکئ يې، خو که دې جرأت له لاسه ورکړ مړ يې.

ځيني خلګ ځکه راته لوې ښکارې، چې چاپير خلګ يې کوچني دي.

تر ټولو پاک اوشريف خلګ هغه دي، چې پرته له پيسو ژوند کولائ شې، خو پرته له شرافته نه.

دوه شيان تيره اغزي لري (ګل اوحقيقت)

د خپلو نيمګړتياوو د ليدلو لپاره له هينداري مرسته وغواړئ نه له ذربينه.

په ياد ولرئ چې ستاسو خوشحالې ستاسو په وجود کې ده، نه ستاسو په بانکي حساب کې.

د زرغوني ليدل دهغه خلګو حق دی، چې باران يې تر اخرې څاڅکئ زغملي وي.

سل ځلې غوږ ونيسئ، زرځلې فکر وکړئ او يو ځل خبرې.

نبوغ يعني يو په سلو کې الهام، نهه نوي په سلو کې کوښښ او هڅه.

ښه ده عالي دښمن دی، که په ښه راضي شوې عالي به نه شې.

که پيسو وفا درلودی، نو تر خاورو لاندې شتمن به يې يوازې نه پرېښودل.

دا دعاء مه کوئ چې هوسا ژوند ولرئ، بلکې دا دعاء وکړئ چې پر ژوند برلاسي اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره چې سکوت کوئ هغومره به ډیر څه زده کړئ.

دا بده نه ده چې ستورو ته ونه رسیږی، بده داده چې درسیدلو لپاره ستوري ونه لرئ.

فریاد او چغې وهل جرأت نه دی، نرمې خبرې او سکوت جرأت دی.

ژوند یوازنې فیلم دی چې په پاي کې یې ټول لوبغاړي مري.

شخصیت لکه ونه اوشهرت لکه سیوری داسې دې، سیوری هغه څه دی چې موږ یې فکر کوو، او ونه هغه څه ده چې واقیعت دی.

د تراژیدي موسیقی له اوریدونکو دهغې غږونکي ډیر غمجن دي.

کوم خلک چې د نورو په اړه درته خبرې کوې، ښه ورته ځیر شی، ځکه هغوې ستاسو په اړه هم نورو ته داسې خبرې کوي.

ځیني خلک ددې په خاطر چې د نورو زړه مات نه کړي، خپل زړه ماتوې.

ځیني خبرې په زړه کې ښې دي، زړه دومره نه خرابوي ځومره چې بیرون ورانی کوي.

ډیر خلک تمثیل کوي، لږ خلک ریښتیني دي.

ځیني وخت به ترخه د خوږو یا اوبو په زور تیروې.

ډیری وخت مو هغه خلک زړه ماتوي، چې موږ یې زړونه ساتلي دي.

په دوو حالتونو کې مو خلک لیوني اوکم عقل بولي، لومړئ: کله چې حقیقت وایی. دوهم: کله چې د خپل حق دفاع کوې.

زموږ لویه تیروتنه داده چې تل د نورو د خوښی لپاره ځان خپه کوو.

کله چې د ستورو او سپوږمۍ ننداره کوو، دا مو باید په یاد وي چې پښې مو پرځمکه دي.

هیڅ حیوان کوم حیوان بې دلیله نه وژني، خو انسان بیا پرته له کوم دلیله انسان وژنې.

ددې پر ځاي چې مخ پاک کړئ، لومړئ مو زړه او فکر پاک کړئ.

د ځینو انسانانو د نیکمرغۍ یو راز دادئ، چې ترخې خبرې زغمي او خوږې خبري هضموې.

هغه لاسونه چې ګلانو ته اوبه ورکوي، تر هغو لاسونو ښکلي دي چې ګلان یې په لاس کې دي.

هره موسکا د خوښی او هره ژړا د خپګان په معنا نه ده.

په هره اړیکه کې چې ځومره د یوبل څخه غوښتني اوهیلې ډیریږي، هغومره یې تر منځ خپګان او اختلاف زیاتیږي.

ځیني خلک په یوه نظر په چا ګرانیږي، پدې نه چې ښکلي دي، پدې چې پاک او معصوم دي.

دانسان ښایست دري شیان دي،علم، محبت، اوازادي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوښيار پرخپل کار توکل کوي، او نادانان په خپل اوميد.

کار د نيکمرغۍ او خوشبختي پانګه ده.

تياری ته د نفرت ويلو پرځای بهتره ده، چي شمع روښانه کړئ.

اميد د بشر لپاره، الوتونکو ته د وزر په څير دی.

کوم ښاخ چي ډيره ميوه ولري، هغه ميوه ښاخ لاندې راکشوي.

نيکمرغه څوک هغه دی چي په کردار سخي او په وينا کي ريښتيني وي.

تر غولامئ د آزادی په لاره کښي مرګ بهتره دی.

د دوستانو د رازونو پټول د دوستی قوي اساس دی.

د لاري په تګ کي ميانه رو واوسه.

په نيک نامه مرګ،د بد نامي تر مرګ ښه دی.

د صحت په ارزښت هغه څوک پوهيږی چي په مصيبت اخته وي.

که ددونيا و جنګ ته د وسلي پرځاي په قلم ورتلائ،تيوله دوښمنان به مو ورک کړي وائ

يا زړه منونکی خبری وکړه، يا خبري منونکی زړه ولره.

د عدالت په تطبيق کولو کي که دي بی عزتي يا زيان وليد، دخداي په خاطر مه ځوريږه خوشحاله او ارام واوسه.

د خداي په وړاندې ترټولو ښه کار، د مسلمان د زړه ځوشحالول دي.

خوشحالي په هغه کور کې ده، چي په هغه کي مينه او محبت وي.

کوم شئ چي پوهه راوړئ، ريښتينولي ده.

بی فکره علم تلکه ده او بی علمه فکر بلا ده. اول د فکرخاوند په څيرنه شروع کوي.

د خداي په وړاندي تر ټولو لوړ جهاد، د ظالم حاکم په وړاندې دعدل خبره ده.

يو ساعت عدل تر شپيتو کالو عبادت غوره دی.

که صبر وکړئ ګټه به وکړئ، اوکه صبر ونه کړئ خداي جل جلاله خپله کړنه عملي کوي که ته راضي اوسي يانه اوسئ.

هر څوک چي صبر او حوصله وکړي هغه صابر دی، نه هغه کس چي شکايت کوي او صبر کوي.

دنيا د هغوکسانو لپاره ده، چي استفاده ځينې کوي او خوند ترې اخلي، دهغې اصلي مالکان خوشحاله او خندنې خلګ دي.

راستي ده چی پوهه رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحمل او زغم ترټولو لوي قوت او جرأت دی.

انسان هغه څه په لاس راوړي، چې په اړه يې فکر کوي.

انسان ازاد پيدا سوی، خو هر ځای په هغه ځنځيرونو کې بند دی، چې ده ځپله جوړ کړي دي.

کله چې بې عدالتې تکراريږي،په ټولنه کې ورو ورو دعدالت په بڼه منل کيږي.

بېړۍ په ساحل کې خورا خوندي وي، خو ددې لپاره جوړه سوې نه ده.

څوک چې زما لپاره غلا کوې، ښايي له ما هم غلا وکړي.

بريالي خلګ هيڅکله ميدان خالي نه پرېږدي، او هغه چې ميدان پرېږدې هيڅکله نه بريالي کيږې.

دقت او نظم د بريالي توب نښه ده.

هغه څوک چې د کمال په لټه کې دې، هغه بايد پوه او هوښيار وې.

د زړه احساس له منطق نه لوړ دی.

ځان غوښتونکۍ د يوازيتوب سخته تجربه په مخ کې لرې.

مينه له مينې پيداکيږې.

دا مينه ده چې دخلګو په منځ کې صولحه رامنځته کوې: پوهه، تجربه او هڅه د بريالي توب مهم عناصر دي.

د ماتې او بريالي توب تر منځ يو قدم لار ده، خو خلګ له ويرې ماته خوري.هر بريالي توب، بريالي توب نه دی. او هره ماته، ماته نه ده.

داسي ور مه پرانيزې، چې بيرته يې نه شۍ بندولی.

که مينه ښکاره نه کړۍ، ښايي خپله مينه ونه مومۍ.

لومړۍ درس چې بايد مور او پلار يې بايد اولادونو ته ور وښيي، ريښتنولي ده.شوپنهاور

ډار او اميد تل له يو بل سره وې.

له کومې هيلې پرته مينه کول، نيکمرغي ده.

برى د ځيرکو او مثبت فکره خلګو په برخه وي.

مينه هغه قدرت دی، چې دښمن په دوست بدلوي.

د قوت او قدرت سرچينه مينه ده.

ټول لوي ارمانونه له مخالفت سره مخ کيږي.

تر څو مو فکر نه وي کړی ژبې ته اجازه مه ورکوۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يواځې وخت دی، چې د مينې عظمت درک کولای شي.

همدا تضادونه دي چې موږ برياليتوب ته رسوي.

که په ناحقه پر يو کار لاس پورې کړئ، ښايي بريالي نه شئ.

هغه کسان ډير بريالي شوي، چې تعريفونه يې لږ اوريدلي دي.

چې تيرتنه ونه کړئ، پرمختګ نه شئ کولای.

ځواني تيروتنه ده، پوخ عمر مبارزه او بوډاتوب پښيماني.

جامې زړې واغوندئ، خو کتاب نوې واخلئ.

لويو خلګو تل خپل ارمانونه په ګوته کړي.

کاميابئ يوازې په دې کې ده چې وکولای شئ ژوند په خپله ښه پر مخ بوځئ.

سپما دعايد سرچينه ده.

چاچې د ښونځئ دروازه خلاصه کړه، په حقيقت کې يې د زندان دروازه وتړله.

مننه کول ترټولو ښه خوی او د نيکيو پلار دی، داخوی مه هيروئ.

انسان ته دخدای(جل جلاله) لومړئ ډالی ژوند، دويمه د مور مينه، دريمه پوه، اوڅلورمه پيژندنه ده.

ترټولو صالحه اولاد هغه دی، چې ددوې کړنې دمور او پلار دوياړ سبب شي.

مال او دولت نه لرم، يواځې روح مې پانګه ده.

که غواړئ هوسا اوسئ، نور هوسا کړئ.

زه له ستونزو سره په جګړه يم ترڅو هوسا شم، کله چې هوسا شوم، نو زغمل يې راته ستونزې شوې.

دا مينه ده چې انسان کمال ته رسوي.

عمل دمينې قدرت بيانوې.

هنر لکه ژوند يواځې ازادي او پرمختګ دی.

انسان له موره ازاد زيږيدلی.

د جنګ پيل او پای دواړه دوينو په تويولو سره کيږي.

زما لومړئ دنده داده چې په راتلونکې کې يو ښه مور واوسم.

مور او پلار په نړئ کې ترټولو ارزښت لرونکي دي.

د مور او پلار لوی هيلې د اولادونو زده کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله د غریبانو ورځنې خواړه دي.

د نورو تیروتنې د خپلو تیروتنو په څیر وزغمئ.

زموږ ماغزه زر ولیږه ډاینمو ده، خو موږ ترې دکوچنې څراغ له بلولو پرته بل کار نه اخلو.

ددې پرځای چې فکر موتاسو سنبال کړي، تاسو مو فکر سنبال کړئ.

تاک له ښې خاورې او انجلۍ له ښې موره انتخاب کړئ.

مور اوپلار نه شي کولای چې له خپلو اولادونو څه جوړ کړي، داخپله اولادونه دي چې له ځانه څه جوړوي.

دا هڅه باید ونه کړو چې ترنورو ښه یا بد اوسو، باید هڅه وکړو چې د ځان په پرتله ښه اوسو.

انسان به هځکله نیکمرغه نه شي، چې د نورو د نیکمرغۍ لپاره کار ونه کړي.

په ژوند کې مو د مثبت فعالیت لپاره په خپله کار وکړئ.

د دندې پیژندل ستونزمن نه دي، بلکې سرته رسول یې ستونزمن دي.

د ښوونکئ نفس او د زده کوونکئ وجدان باید پاک وي.

د نورو له فکره د خپل بریالیتوب لپاره کار واخلئ.

د ځان غوښتونکو کسانو د نیکمرغۍ عمر لنډ وي.

یو هیواد هغه وخت خپلواک او ازاد بلل کیږي، چې خلک یې خپلواک او ازاد وي.

که راحت او ازاد وجدان ونه لرو، هیڅکله به هوسا ونه اوسو.

مینه هرڅه ته ماته ورکوي، خو خپله ماته نه خوري.

هغه کسان څوک چې په خوږو الفاضو خبرې کوي، هغوې هیڅکله یوازې نه وي.

هغه خلک څومره ښکلي دي، چې موسکا یې پر شونډو خپره وي.

له ماسره مینه لږه وکړه، خوتل یې وکړه.

د دوښمنانو د کمولو لپاره غوره لاره، د دوستان ډیرول دي.

هغه دولت هیڅکله پرځای نه پاتې کیږي، چې چاته سزا پکې واورول شي او پرې پلې نه شي.

د خلکو دزړونو خوشحالول نه خرڅ لري اونه زحمت، یوازې یوه موسکا بسنه کوي.

یوازې ښځه هغه وجود دی، چې دمینې حقیقت پیژني.

که د یوې تیرتنې لپاره زردلیلونه راوړئ، په واقیعت کې درنه یو زر تیروتنې شوې.

مهمه نه ده چې څومره ښنه کوو، مهمه داده چې په ښنه کې مو څومره مینه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر انسان د ژوند لپاره دليل او هدف ته اړتيا لري.

له ياده مه باسئ چې دکوچنيو کارونو په سرته رسولو، لويو موخو ته لاره پيداکوئ.

په ژوند کې مهمه داده، چې انسان هدف ولري او هدف ته درسيدو لپاره له خپل استعداده کټه واخلي.

که لومړی وار برايالی نه شوې، بيابيا هڅه وکړه، خوهدف مه پرېږده.

ازادي دې ته نه وايي چې څه دي زړه وغواړئ هغه وکړه، بلکې ازادي هغه ده چې د حق

درکړل شوی وي هغه ترسره کړې.

کله مو چې ژوند پای ته ورسيږي، تازه به مو زده کړي وي، چې څنګه وکړای شئ دويم ځلي ښه ژوند پيل کړئ.

زما لوړوالی هغه دی، چې په لسو جملو کې داسې څه ووايم، چې بل يې په يو کتاب کې وايي.

د خپلې ازادۍ لپاره بايد دخپلو کارونو مسؤليت ومنو.

د اخلاقو خاوندان د ټولنې روح دی.

ستونزو ته هڅکله وخت مه ورکوئ، چې ځان غټ دروپيژني.

دانسان لويه نيمګړتيا داده چې له خپل عيبه ناخبره وي.

دعلم حاصلول ژوند ته تياری نه دی، بلکې علم خپله ژوند دی.

وخت چاته نه درېږي او نه هم ډېرېږي.

په نړۍ کې دوه شيان ډير ښکلي دي: ستوري په آسمان کې، او ارامه وجدان.

که په ځان کې د زړورتيا خطر ونه منئ، هڅکله به خپل هدف ترلاسه نه کړئ.

ستونزي مو په شګو او بريالیتوبونه مو دمرمرو په تيږو وليکئ.

خپل استعداد مه پټوئ، خدای(جل جلاله) ددې لپاره درکړی، چې کار ترې واخلئ.

لوی استعداد پرته له لويې ارادې، وجود نه لري.

هغه کسان چې نه شي کولای ځان اداره کړي، مجبوره دي چې د نورو اطاعت وکړي.

لټي د انسان د خيال پرستی سبب کيږي.

دهغه چا سره مينه وکړئ، کوم چې تاسو ته نصيحت کوي، نه له هغو سره چې ستاسو ستاينه کوي.

کله موقسمت له يوې ګوتې نيسي، بايد ټول لاس ورکړو.

لوی انسانان يواځې په خپل ځان متکي وي اوله خپل ځان پرته له نورو هيڅ تمه نه لري، خو واړه بياتل د نورو په تمه ناست وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يواځې پوهه کافي نه ده، بلکې پرخپلې پوهې عمل وکړئ.

هوښيار کسان په عمل ژوند کوي، نه په خيال.

عدالت داخلاقې دندو يوه ټولګه ده.

هغه کسان چې ښه فکر کوې، اړتيا نسته چې ډير فکر وکړئ.

په لړو مسايلو ډير پوهيدل د پوهې مهارت دی.

انسان هغه موجود دی، چې له هر شي سره عادت کيږي.

تيروتنه دانسان يو کار دی، خو تکرار يې يوه حيواني کړنه ده.

يو داسې څه وليکئ چې خلګ يې ولولي، يا داسې څه وکړئ، چې خلګ پرې ليکنه وکړي.

د طبيعت لومړئ قانون نظم دی.

چيرته چې قدرت قدم وهي، هلته قانون کمزورئ وي.

څومره چې له نورو سره ښه سلوک اونيکي کوې، هغومره ترې تمه مه کوئ.

مور هغه بانک ته ورته ده، چيرته چې موږ خپل غمونه او دردونه خوندي کوو.

واده هغه پيوند دی، چې له يوې ونې سره بله پيوندوي، که ښه وي دواړه به ژوندې پاتې شي او که بد وي دواړه به مري.

رينښتيا هم داسې باور سته چې غرونه خوځوي، هغه پر ځان باور دی.

که په يوه کار کې اخلاقې اصول په پام کې ونه نيول شې، هغه د فساد او تباهۍ سبب کيږي.

هغه څوک چې په هيڅ نه پوهيږي، اړ دی چې په هر څه باور وکړي.

هغه څوک چې په خپل نفس حاکم دي، دهر دين له لارې وخدای ته رسيدای شي.

څومره چې متاهل کسان ډير شي، جنايات هومره کميږي.

دنفس د تزکيې بنسټ دخدای ويره او پر اخرت باور دی.

د يو چا د شخصيت پر ځای دهغه د بدن سره مينه کول د ځارويو کار دی.

که يو پلار غواړي چې د خپلو اولادونو لپاره ترټولو ارزښتمند کار ترسره کړي، هغه دادی چې دخپلو اولادونو له مور سره مينه وکړي.

د زړلو لپاره ترټولو غوره ځای دمور غيږ ده.

هيڅکله د يو داسې شخص سره واده ونکړئ، چې له خپلې مور څخه کرکه لري، ځکه يوه ورځ به يې له تاهم کرکه پيداشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقلمند انسان د ځان لپاره فرصت نه لټوي، بلکې پيداکوي يې.

د برياليتوب پايله په پرله پسې هڅو او غوره تدبير پورې تړلې ده، نه ستاسې په قسمت پورې.

جګړه قوانين غلي کوي.

تاسې به ترهغه پرمختګ ونه کړئ، څو دوخت له بدلون سره خپل ځانونه بدل نه کړئ.

دمور لاسونه له مهربانۍ اوشفقت څخه جوړشوي دي او کوچنيان ډير په خوښۍ وربانديې خوب کوي.

په دې بيخونده اوککړه نړۍ کې هرڅه بې اعتباره ښکاري، اما هغه څه چې په سپيڅلتيا کې يې هيڅ شک نشته هغه د مور مينه ده.

ددې پرځای چې کتابونه ولولئ، ښه داده چې يوښه کتاب څوځلې ولولئ.

مطالعه ستاسو د برياليتوب سبب کيږي.

بی حکومته ژوند کولای شو. خو پرته له کتاب او مطبوعاتو يې نشو کولای.

مينه هغه جذبه ده، چې په پاکوالې يې د نيا قربانيدای شي.

فلسفه له کتاب څخه نه، له ژونده سرچينه اخلي.

هغه چې په ژوند کې موخه نه لري، نو د هغوې په اړه اټکل هم بې ګټې دی.

له زده کړو وروسته هر بدلون مثبت وي.

زده کړه د انسان د جهل او ناپوهۍ تدريجي کشف کوي.

قلم د ذهن ژبه ده.

دقلم رنګ ستاسو په واک کې دی، جنت رسم کړئ او ورداخل شئ.

سپوږمۍ هغه خاموشه مسافره ده، چې په خپله په تياره کې سفر کوي، خو نورو ته رڼا ورکوي.

د علم ريښې ترخې، خو ميوه يې خوږه وي.

خدای (جل جلاله) هغه چاته ازادې ورکوې چې په لټه کې يې وي.

که آرام اوسيدل غواړئ، نو له خلکو سره وعدې کمې کوئ.

زړورتيا د ژوند د ستونزو پر وړاندې مبارزه ده.

مرګ ددې سبب کيږي چې سړی د ژوند احساس وکړي.

د خاموشۍ په مفهوم پوهيږو، خو په دې نه پوهيږو چې خاموشي څه وخت غوره کړو.

د انسان لومړۍ دنده له ژوند څخه حق اخيستل دي.

د ژوند لارښونکی عقل نه، بلکې عادت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثبت فکر ستاسو زړورتیا زیاتوي.

له ژوند سره نیکمرغي او غم دواړه ملګري وي، له هغه مه ویریږئ.

که په دې فکر وو، چې د ژوند کولو لپاره یوه دنیا وخت لرو، نو تیروتنه موکړې او وخت مو له لاسه ورکړی.

د انسان ژوند د هغه له افکارو جوړشوی دی.

انسان خپل برم او عظمت د مور په وسیله ترلاسه کړی دی.

برخلیک مو په خپله وټاکئ، همداشیبه پریکړه وکړئ چې برخلیک به مو څه وي.

د ښځې ژوند د مینې، درد او کړاونو اوږده لړی ده.

خدای( جل جلاله) له بشر نه یواځې ارام زړه غواړي.

د خدای( جل جلاله) ترټولو لوی نعمت ژوند او شتمني ده.

وجدان د خدای( جل جلاله) غږ دی.

عقل یو ځواک دی، چې نړۍ اداره کوي.

هره شپه د ویده کیدو په وخت کې فکر وکړئ، چې نن مې څه وکړل او ایا د سبا لپاره د ژوند کولو لیاقت لرئ.

انسان هغه کس دی چې خپل ژوند پخپله جوړولی شي.

ښځه او مینه لازم او ملزوم دي.

بدبخت هغه کس دی، چې خلک ترې ډاریږي.

هغه کسان چې ناهیلي اروا لري، هغه ترټولو ګنهکار دی.

دا مهمه نه ده چې تا څه لیکلي، مهمه داده چې لوستونکو څه ترې واخیستل.

جنت هغه وخت جنت شو، چې موږ ترې وشړل شو.

خلک له هغو کسانو خوند اخلي، چې له ژونده خوند اخلي.

ته چې ځان ته اور اچوې، نور خلک هڅه کوي ننداره ته دې راشي.

د بریالیتوب مهم عناصر زړه سوې او له خلګو سره ملګرتیا ده.

خلک هغه وخت تاسو ته ارزښت درکوي، چې پوه شي، تاسو اهمیت ورکوئ.

د نورو خدمت وکړئ، مخکې له دې چې ستاسو خدمت وکړي.

مینه کړاو دی، خو هغه چې یې نه لري بیخي مړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه پیاوړې اردو ده، په یوه شیبه کې زړه او ماغزه ترېرید لاندې نیسي.

بد تصور کول، د نه وړتیا په مانا دي.

د هغه چا لپاره چې ژوند تریخ دی، د هغوی لپاره مرگ سعادت دی.

هغه ښځه نیکمرغه نه ده، چې له کوم لوی شخص سره واده وکړي، بلکې نیکمرغه ښځه هغه ده چې له واده کولو وروسته له خپل خاوند څخه لوی شخص جوړ کړي.

تاریخ تل د خلکو له ژونده بحث کوي.

هغه خلک چې توان او قوت لري، اراده نه لري.

درې اړین ټکي له یاده مه باسئ، د خپلوانو درناوې، دنورو درناوې، او د خپل کار مسؤلیت.

لومړئ د ځان په اړه پوه شئ وروسته د نورو تاریخ ولولئ.

ترټولو ښه ژباړن هغه دی، چې د نورو چوپتیا وژباړي.

که تاسې د خپل ځان په اړه ښه احساس نه لرئ، نو نه شئ کولی چې له نورو سره مینه وکړئ.

تخیل د علم نه مهم دی، ځکه علم محدود دی، خو تخیل نړئ په خپله لمن کې رانغاړي.

له هغو کسانو مې هیڅ زده نه کړل، چې زما همفکره وو.

د ښه ژوند لپاره د سپي په څیر کار وکړئ، د اسپ په څیر وخورئ، د گیدړئ په څیر فکر وکړئ او د سویې په څیر منډه وکړئ.

څه چې اورم هیروم یې، څه چې وینم یاد ته یې سپارم، او هغه څه چې سرته یې رسوم درک کوم یې.

بدبختي موږ ته دا راښیې چې نیکمرغه واوسو.

برې له دوو لارو ترلاسه کولای سو، لومړی له خپلې هوښیاری او دویم د نورو له ناپوهی.

لوی بریالیتوب، د ملگرو ترمنځ اعتماد دی.

په یاد ولرئ ځیني وخت چوپتیا ترټولو ښه ځواب دی.

تر ټولو ښه سیاست صداقت دی.

د خپلو فعالیتونو لپاره ځانگړی وخت په پام کې ونیسئ، هغه کارونه چې ډیر اړین نه دي، وروسته یې ترسره کړئ.

هیله د نیکمرغی یوه برخه ده.

د مینې پیوند په بیلتانه څه، په مرگ هم نه شلیږي.

که غواړئ حقیقي ژوند وکړئ، نو لومړئ مرگ وپیژنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک چې بې وخته خبرې کوي، خبرې يې ارزښت له لاسه ورکوي.

ځان لوی بلل لويه بدبختي ده.

که خوشحاله وئ، نو ورو وخاندئ چې غم مو ناراحته نه شي او که خفه وئ، نو په ارامه وژاړئ چې ښادي مو ناهيلې نه شي.

اته ځلې چې ولويدې اتم وار هم جګ شه.

په ځمکه کې تر انسان او په انسان کې تر فکر لوی څيز نسته.

د لوړې مرتبې د ترلاسه کولو لپاره بايد له ځانه تير شو.

ښه داده چې شتمن ژوند وکړو، نه داچې له نړۍ شتمن لاړ شو.

په وړتيا باور لرل، نيم برياليتوب دی.

د ماشومانو لپاره د روزلو پر وخت لومړئ بايد د هغوئ شخصيت او اړتياوو ته پام وشي.

سعادت عادت دی، هغه وروزئ.

يو څوک د ځينو لپاره يو کس، خو د ځينو لپاره ټوله نړۍ وي.

د انسان د شخصيت ستر د ښمن ډار دی.

لومړئ او ترټولو لوی بری په ځان تسلط دی.

ترټولو بده داده چې يو شخص خپله دځان ستاينه کوي.

له خاوند سره د کتاب په څير چلند وکړه، ستړي کوونکي فصلونه يې مه لوله.

د برياليتوب کلی ټينګه اراده ده.

اخلاق بايد پر هنر حکومت وکړي.

دا توان يوازې په انسان کې دی، چې خپلې کمزورۍ په خپل ځواک بدلې کړئ.

هيڅ شي نه شي کولای چې پر مينې حکومت وکړي، دا مينه ده چې په هرڅه واکمنه ده.

پر ځان باور لرل لويه اړتيا او مسؤليت دی.

حکمت هغه ونه ده چې ريښې به زړه کې او ميوې يې په ژبه دي.

هغه شی چې ډيره رڼا لري، هغه ژور سيوری لري.

لويې څاګانې له اوبو او لوی زړونه له اوښکو ډک دي.

لويه مينه هغه ده چې هرڅه درکړي، خو په بدل کې يې درنه هيڅ ونه غواړي.

د انسان برخليک يوازې مينه ټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که غواړئ چې اوږد ژوند ولرې، باید خوشحاله ژوند وکړئ.

د قوې ارادې په لرلو سره دهرڅه خاوند يې.

په دريو وختونو کې باید د دريو شيانو کلک ساتونکي واوسو، په تنهایی کې د افکارو، په کور کې داخلاقو او په ټولنه کې د ژبې.

د نورو سعادت غوښتل ترټولو لويه نيکمرغي ده.

د هيواد ابادي د ازادی له مخې سنجول کيږي، نه د حاصلاتو.

په نړۍ کې يواځې دوه شيان ښايسته دي: ښځه او ګل.

زموږ په ژوند کې ترټولو لويه ستونزه داده، چې په خپل کار کې نظم او ترتيب نه لرو.

کوم کار چې ستاسو په اصليت کې نه وې، هغه هيڅکله مه کوئ، ځکه داسې کړني د خوښې پر ځای ستونزې درکوي.

يو شخص د هغه کار په کولو مه مجبوروئ، کوم يې چې زړه نه غواړي.

زموږ استعداد حد نه لري، خو موږ يې محدودوو.

که غواړئ مشري ترلاسه کړئ، نو لومړئ اقدام وکړئ.

تاسي د خپل ژوند ذمه وار ياست که هغه خوښي وي يا غم، ښه وې يا بد، برى وي او که ماتې.

هيڅکوک د تل لپاره په بدمرغی محکوم نه دی.

ماشومانو ته وخت ورکړئ چې ماشوم توب تير کړي.

څوک مو چې نه خوښيږي، په اړه يې يوه شيبه هم فکر مه کوئ.

خوشحالي په خپل ځان او بدن کې پيداکيږي، دا يو بهرنې څيز نه دی.

که د ژوند په هدف نه پوهيږئ، نو څنګه کولای شئ چې د ژوند دلوبې ګټونکي اوسئ.

د لوړ فکر خاوند اوسه او لوړ هدفونه وټاکه.

خپل فکر د اسمان له ستورو لوړ وساته.

له ماشومانو سره مينه دومره اړينه ده، چې په کموالي يې کيدای شي ماشوم تباه شي.

خلګ دا نه خوښوې چې ستاسو د انګړ دروازه وټکوي او د ملګرتيا غوښتنه درڅخه وکړي، تاسو خپله بايد ملګري ومومئ.

هغه اور چې زموږ ځان او مال سوځي، ډيری وخت مو خپله بل کړی وي.

ای ځوانانو! افسوس چې د وخت په ارزښت نه پوهيږئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ټولو لوی خطر د بریالیتوب په وخت کې رامنځته کیږي.

تاسی به هیڅکله دومره وخت ونه لرئ، لکه نن چې یې لرئ.

زر واده کول تیروتنه ده، او وروسته واده کول لویه تیروتنه ده.

په ماشوم توب کې د زده کړې اغیز داسې دی، له د تیږې پر مخ نقش.

ښوونکی د ملتونو هغه ځراغ دی، چې له رڼا یې هر وکړئ ګټه اخلي.

هغه کسان چې له خلکو ویریږي، هغه له خدایه نه ویریږي.

ویره او هیله هیڅکله یو ځای سفر نه کوي.

د ژوند لوی راز په زغم کې دی، دیوې ناڅرګندې راتلونکې لپاره باید حال تریخ نه کړو.

راتلونکی د هغه چا دی، چې هرکلې ته یې ورځي.

مینه د ټولو فصلونو میوه ده او ځانګو ته یې د هر چا لاس رسیږي.

اخلاق جوړ شوی شی نه دی، بلکې ذره ذره او ورځ په ورځ رامنځته کیږي.

مینه مو وژني، څو دویم ځلې ژوند راکړي.

که ښایست سره درنښت ونه لرئ، نو ښایست مو لکه بې بویه عطر او بې بویه ګل.

دنیا دهغو کسانو ده، چې انرژي او توده وینه لري.

د ماشومانو برخلیک په مور او پلار پورې تړلی دی.

د زده کړو هدف د ماشین جوړول نه دي، بلکې موخه یې د انسان جوړول دي.

انسانیت تل حقیقت ته اړتیا لري.

لوی انسان وروسته وعده کوي او ژر یې سرته رسوي.

که مو مینه له لاسه ورکړه، نو ژوند مو له لاسه ورکړ.

درې شیان ډیر سخت دي: مینه، پولاد، الماس او ځان پیژندنه.

یواځیتوب په جنت کې هم ارزښت نه لري.

د ماشوم روزنه باید له زیږیدو شل کاله مخکې پیل شي.

د حق پیژندنه د زده کړو نښه ده، که غواړو چې اولادونه مو حق پیژندونکې وي، نو باید په زده کړو یې سنبال کړو.

د ارادي د روزلو لپاره ترټولو ښه وخت د ځواني دوره ده.

لنډ متلونه له اوږدو تجربو رامنځته شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له زده کړو تل پوهیدل ښه دي.

که غواړئ چې عمر مو ډیر شي، نو په ځوانۍ کې سپین ږږي شي.

لوي کارونه یواځې لویو خلکو کړي او خلک هغه وخت لوییږي چې وغواړي.

یواځې نن ژوندی نه یې، باید په راتلونکې کې هم فکر وکړې.

هغه څوک چې سخاوت لري، هغه زړورتیا ته اړتیا نه لري.

هغه استعداد چې ستاسو په وجود کې دی، کشف او څرګند یې کړئ.

که غواړئ چې د نن او سبا لپاره ګټور وئ، له تیر نه درس واخلئ.

که له خپلو احساساتو ناراضه یاست، نو تمرکز مو بدل کړئ.

ژوند د عقل او عاطفې تر منځ د مبارزې برخه نه ده.

که غواړئ چې په خپلو خبرو مو باور وي، نو له ځانه خبرې مه کوئ.

کله چې د ازادۍ ونه ریښې وکړي، نو په ډیرې چټکۍ وده او نمو کوي.

میرمن او خاوند له واده یو کال وروسته د یو بل ښایست ته فکر نه کوي، بلکې د یو بل اخلاقو او تګلارې ته فکر کوي.

دروغ که څومره لوی وي، احمقان هغومره ژر پرې باور کوي.

تر ټولو مبارکې او پاکې شیدې، دمور شیدې دي.

د انسان ژوند د شبنم په څیر دی، چې د ګل له پاڼې وښوییږي، څاڅي.

د هرې ماتې لامل، له فکر پرته عمل کول دي.

په خپله سترګیا هیڅکله ونه شرمیږې، یوازې هڅه وکړه چې سترګی کونکی ونه اوسې.

تاریخ لیکونکی د ټولنې تاریخ لیکي، نه دانسان.

هر څومره چې زر تصمیم ونیسئ، په هماغه اندازه مو د تصمیم نیولو قدرت ډیرېږي.

په هغه څه چې صادقانه باور لرئ، هغه شاید غلط نه وي.

په ځان باور ولرئ، ترڅو نور په تاسو باور وکړي.

نیکمرغي د توپ په څیر ده، چې رانه لرې شي منډې پیسي وهو، کله چې په لاس راشي بیایې په لغته وهو.

د انسان لومړۍ دنده، کوښښ دی.

هغه کسان د زړه سوي وړ دي، چې مشوره ورکوونکي یې ناپوهان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لټي دي ته نه وايې چې يو څوک څه نه کوي، بلکې کوم کسان چې د داسې کارونو په ترسره کولو کې ژوند تيروي، چې د دوي له وړتيا ټيټ وي، دوي په لټانو کې شميرل کيږي.

ناهيلي يعني له ځان او نورو نفرت کول.

د انسان لپاره حقيقي مرګ د اميد مړينه ده.

که څوک يو ځل فريب راکړي، هغه ته ننګ دی او که په دويم ځل فريب راکړي، ماته ننګ دی.

د وجدان راضي کول لويه مرتبه ده.

د ټولو واقيعتونو وروسته تصميم ونيسئ.

هيڅ شی انسان دومره نه مړوي، لکه احساس.

پلټنه وکړئ او تل په پلټنه کې اوسئ.

د يوې ټولنې نيمګړتيا داده چې هر څوک غواړي يو لوی کس وي، خو د بل لپاره يې نه خوښوي.

په دنيا کې هغه کسان بريالي دي چې نورو ته په تمه نه وي او هر څه له ځانه غواړي.

طبيعي علوم بې له دينه فلج او دين بې له طبيعي علومو ړوند دی.

که په يو شي په زور عقيده کوې، هغه ارزښت نه لري.

د ښځې يوې موسکا ډير تختونه وران کړي او ډيرې مانۍ يې نړولي.

لاړ شئ دهغه پر لور چې ايمان پرې لرئ، او عمل پرې وکړئ.

د مينې له معجزو يوه معجزه داده چې د مينې له درده د خوند اخيستو احساس کوو.

که چيرې زموږ په کار کې(که) نه وي شايد بريالي شو.

که غواړئ چې سيالي وکړئ، نو داسې چا سره يې وکړئ چې تر تاسو بريالۍ وي.

زه تل په دې باور يم، چې په طبيعت کې تر ښځې نور ښکلی شی نه شته.

نيکمرغي په علم کې نسته، بلکې د هغه داستعمال په طريقه کې ده.

پر ما خپل هيواد تر خپلې کورنې ګران دی، خو تر خپل هيواد له انسانيت سره ډيره مينه لرم.

ښه اخلاق يواځې امن، سوکالي او سلامتي نه راوړي، بلکې په زړونو کې ځای هم جوړوي.

ډيری خلګ تر ناڅاپي بريا، ناڅاپي مرګ ته چمتو وي.

په وعدو باور مه کوئ، ځکه نړۍ له وعدو ډکه ده.

د نيکمرغۍ خطر دادئ، چې د نيکمرغۍ په حالت کې سړی هر برخليک مني.

تر ټولو لويه ګناه ځان کمزورئ بلل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وينې تويونکي خلک ترټولو ډارن دي.

شتمني مچۍ ده، که په ساتنه يې يوه شې شات درکوي، که نه نيش درکوي او الوځي.

هغه لاسونه چې مرسته کوي، تر هغه لاسونو سپيځلي دي، چې آسمان ته په دعا پورته وي.

انسان هومره دی، چې څومره باور لري.

چې نه پوهيږې، چې چيرته روان يې، نو څنګه هيله لرې چې هلته به ورسيږې.

انسان مخکې له دې چې د يو څه په اړه څه ووايي، ښه داده چې ويې وينې.

افسوس چې ځوان نه پوهيږي، او زوړ نه توانيږي.

ډير کار کول مهم نه دي، بلکې سم کار کول مهم دي.

په خپله وړتيا باور لرل، د برياليتوب راز دی.

له باور پرته نه شئ کولای هوسا ژوند وکړئ.

هغه کسان چې ايمان نه لري تل درواغ وايي.

هوښيار تل د بل شخص له بديو ګټه اخلي.

پوښتني زموږ افکار جوړوي.

تمدن ژوند نه دی، بلکې ژوند جوړونکی دی.

لويه بدبختي داده چې د بدبختۍ زغم ونه لرو.

زړور يو ځلې مري، ډارن زر ځلې.

چې له مرګه ډاريږي، هغه له ژونده خوند نه شي اخيستلای.

له باور پرته هر ډول مينه دوام نه کوي.

هغه څوک چې په علم عمل نه کوي، لکه ناروغ چې درمل ولري، خو استفاده ترې نه کوي.

د نورو په لارښوونه واده کول په دوزخ کې ژوند کول دي.

سياست: يعني خدای ته داسې عبادت کول چې شيطان په غوسه نه شي.

هنر د ژوند پيژندنې کلی ده.

له هر څه مخکې بايد يوه شئ چې څه غواړئ.

د برياليتوب لومړی ګام د ادب زده کړه ده، او نورو ته درناوی دی.

ازادی په يوه کس پورې تړلې نه ده، دټولو مال دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کسان تل له ژونده شکایت کوي، چې نه پوره کېدونکې غوښتنې لري.

هوښیاران چې په پوهېږي هغه نه وايي، خو هغه څه چې وايي په هغه نه پوهېږي.

په یاد ولرئ، چې دنن فرصت سبا نه لرئ.

شپه هغه وخت ښکلې ده، چې په رڼا باور ولرو.

له ګناه کرکه وکړئ، نه له ګناه کارانو.

یوازې په کیناستلو او فکر کولو بسنه مه کوئ، اقدام وکړئ.

که څه مو په لاس رانه وړل هېر یې کړئ، او که د هېرولو توان یې نه لرئ بیا هڅه وکړئ په لاس یې راوړئ.

په کار کې نرمښت دانسان دنیکمرغیو لامل کېږي.

د خدای(ج) د رحمت باران تل اوري، دا زموږ ګناه ده چې کاسې مو سرچپه نیولې.

د کمزورې ارادې نتیجه خبرې او د قوې ارادې نتیجه عمل دی

که په خطا لاره ولاړئ د بیرته راګرځېدو یې مه ویرېږئ.

له حقیقت سره مینه ولرئ، خو تیروتنې مو وبښئ.

هغه چې په نورو حکومت کوي، هغه لومړئ په ځان حاکم وي.

د باور نه کولو معنا په باور نه پوهیدل دي.

رېښتیا امانت دی او درواغ خیانت دی.

د غله او شتمن تر منځ فرق دادئ، چې غل دشتمن مال او شتمن د فقیر پیسې غلا کوي.

فقیر د خپلې خیټې د مړولو او شتمن د خپلې ناراحتې په درملنه کې په عذاب دي.

مخکې له دې چې نور قرباني کړو، ښه داده چې ځان قرباني کړو.

که پر یوه کمزوري کس په غوسه شې، دلیل یې دادئ چې زور نه لرې.

د بریا درې اصله دي: مشوره، تصمیم او تاکنه.

کم پوهیدل او ډیر ویل د نشت او د بیځایه لګښت په معنا دي.

په زړه سوي او احترام له نورو سره تګ کوئ.

د ځینو په مغزو کې یو میلیون حقیقتونه ثبت وي، خو بیا هم بې سواده وي.

علم د تمدن د لیږد وسیله ده.

ملګري د پیسو په څیر دي، له لاسته راوړلو یې ساتل اسان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندا د دو کسانو تر منځ لنډه فاصله ده.

پیسې د سولې مور او جنګ یې پلار دی.

شتمنۍ د ژوند لپاره وغواړئ نه ژوند د شتمنۍ لپاره.

که څوک فقیر وي، خو چې قناعت کوونکی وي هغه په حقیقت کې شتمن دی.

ښه انسان هغه دی چې د هر چا د حق دفاع وکړي.

هغه کسان چې استقامت لري، د ماتې مخ نه ویني.

د نورو د مینې د لاسته راوړلو لپاره تر ټولو ښه وسیله له نورو سره نیکي کول دي.

نړۍ ټوله ښکلې او ښایسته ده، خو که موږ ورته لږ ځیر شو.

که څوک تاریخ لولي هغه په تیر او په اوس کې ژوند کوي.

د هوښیار پانګه د هغه علم او پوهه ده.

انسان نه شي کولاي چې له ټولو سره نیکي وکړي، خو ټولو ته یې ورښودلای شي.

انسان له فکر کولو پرته ژوند نه شي کولای.

نیکمرغي څلور عوامل لري، روغتیا، ښایست، شتمني او ښه ملګری.

زه له راتلونکې سره مینه لرم، ځکه پاتې عمر مې په کې تیریږي.

د تاریخ ډیره برخه ګومان او پاتې یې تعصب دی.

هر هغه څه مو چې نه وژني، تاسو غښتلي کوي.

د سیاسي ژوند سمون یواځې هغه څوک کولی شي، چې په هره پوهه، هنر او اخلاقي ښیګڼه کې پوره ذهني وړتیا لري.

دوه خبرې دي، یا به ته وخت چلوې یا به تا چلوي، خو که وخت تا چلوي بیا دې خدای مل شه.روهن

په ژوند کې داسې اوسئ، که هرڅوک بد درپسې ووایي، چې هیڅوک یې ونه مني.

کله چې ټوله شتمني له لاسه ورکړئ، نو ټول دوستان له لاسه ورکوئ.

د انسان پانګه وړتیا نه، بلکې ښه خوی دی.

ښه تاریخ لیکونکی هغه دی چې بدګومانه وي.

هغه کسان په ژوند کې خامخا ماتې خوري، چې په خپل ذهن کې د ماتې سوچونه کوي.

اړینه نه ده چې چیرته زیږیدلي یو، څنګه او چیرته ژوند کوو، بلکې اړینه داده چې چیرته وو او څنګه تګلاره باید خپله کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چې کتابتون لري مه ترې ویرېږئ، مګر هغه چې یو کتاب لري ترې وډار شئ.

په خپل وخت ویده کېدل او په وخت له خوبه وېښېدل سړی تندرست، خوشحاله او شتمنوي.

مطالعه وکړئ، ترڅو په هغه پوه شئ، چې هیڅ پرې نه پوهېدئ.

د اوس په قدر اوس پوه شئ چې تېر بېرته نه راځي او په راتلونکې کې شاید رانه شي.

په نړۍ کې مې له یوه کس سره مینه لرله، چې هغه زه خپله وم.

د مینې کروندګر د اوښکو لوګر دي.

د عشق په لاره کې د عقل پښې ماتېږي.

ممکنه ده چې په ټوله دنیا کې یو کس وي، خو د ځینو کسانو لپاره ټوله دنیا یې.

تل په ځان باور ولرئ، که مو ځل په بریالیتوب سرته رسولی وي بیا هم کولای شئ.

زېږېدل لویه خوشحالي ده، خو مرګ لوی غم دی.

د نن ځوان دا فکر کوي چې پیسې هر څه دي، خو چې کله لوی شي نو پوه شي چې داسې نه ده.

هغه کسان چې پیسې په سختۍ لاس ته راوړي، په اسانۍ یې نه ډالۍ کوي.

له تیر نه زده کړئ، نن ژوند وکړئ او دسبا په هیله اوسئ.

په دې نړۍ کې له دوو لارو بریالي کیدای شئ، لومړی له خپلې هوښیارۍ او دویم دنورو له ناپوهۍ نه.

د انسان لویې په فکر کې ده.

که یواځې د پیسو لپاره کار کوئ، نو هیڅکله به نیکمرغه نه شئ.

خوښي له هر ډول شتمنۍ څخه غوره ده.

تر ټول ارزښناکه شتمني مې شرافت او عزت دی.

عقل له عاطفې پرته خطرناک دی او عاطفه بې له عقله د اعتماد وړ نه ده، پوره انسان هغه دی چې هم عقل او هم عاطفه ولري.

ښادي وخت او ځای نه غواړي، کافي ده چې زړه یې وغواړي.

یا صحیح خبرې او یا عاقلانه سکوت وکړئ.

لوی انسان هغه دی، چې کوچنی فکر ونه لري.

حقیقت تریخ کښت دی، خو ثمره یې خوږه ده.

هر لوی اقدام په پیل کې ناشونې برېښي.

خپله راتلونکې مو په خپلو افکارو وتاکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان یواځې دنیکۍ لپاره پیداشوی.

خبرې کول اړتیا ده، خو غوږ نیول هنر.

هوښیاران په عمل ژوند کوي، نه د فکر په عمل.

تاریخ خپله لومړۍ پاڼه دلویو کسانو په ژوند پیلوي.

بد هم بدتر لري، خو لدې نه بدتر انتظار دی

دا مهمه نه ده چې څومره وخت لرې، بلکې دا مهمه ده چې څنګه یې تیروې.

هغه انسانان څومره ستر دي، چې زړونه په مینه اخلي، او څومره احمقان دي هغه کسان، چې زړه د پیسو په بدل پلوري.

هر انتخاب چې کوئ، هغه ته وفادار اوسئ.

نیکمرغي په پیسو پورې اړه نه لري.

زړه او ذهن مو وروزئ، ترڅو دښې شتمنۍ څښتن شئ.

د هدف په ټاکنه کې بیړه وکړئ، څومره چې ژر ځان ته هدف ټاکئ په هماغه کچه د وخت دضایع کیدو مخه نیول کیږي.

تر ټولو ښه ناصیح هغه دی، چې اصلاح له ځانه شروع کړي.

طبیعي پیښې د انسان روحیات قوي کوي.

ځواني یو بند صندوق دی، له داخل نه یې یو سپین ږیری خبر دی چې څه شی پکې دي.

مینه خپله له اوښکو سره مینه کوي.

د پوهې لومړی دفتر صداقت دی.

انسان د نیکمرغۍ لپاره پیداشوی، خو نیکمرغي د ګټور کار په کولو سره منځته راځي.

خپله داسې اوسه چې بل ته وکولای شې ووایې چې زما تګلاره خپله کړه.

نن له لاسه مه ورکوه، بلکې له نن څخه استفاده وکړئ.

ښه مور دطبیعت شهکار دی.

پیسې په ټوله نړۍ کې یوه ویروسي ناروغي ده، هیڅوک نه شي کولای چې له شره یې ځان خلاص کړي.

بریالیتوب یواځې هغه دی، چې ژوند په خپله خوښه تیر کړئ.

کارونو ته مو وخت تقسیم کړئ، تر څو کارونه مو ځمکې ته پاتې نه شي.

ویل کیږي چا چې ځان وپیژانده، ټول خلک یې وپیژندل، خو زه وایم چا چې له خلکو سره مینه وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان یې وپیژانده.

شتمني د مینې په څیر ده، که چا ورباندې بخیلي وکړه مړه کیږي، خو ښمونکی یې ژوندی پاتې کیږي.

ښځه تول خیر دی، ځکه هغه یوه مور ده.

د هغه چا سره مینه وکړئ چې ستاسو د مینې تږی وي، نه ستا د عشق ځکه د عشق تږی یو ورځ ضرور مړیږي.

هیڅکله هم ددې جملې دویلو صرفت له لاسه مه ورکوئ: تاسره مینه لرم.

کولای شې چې له حقیقت سره مینه ونه لرئ، خو نه شئ کولی چې ترې انکار وکړئ.

ښځه یواځې مخلوق دی چې هم دې خندولای شي، او هم دې ژړولای شي.

هغه څوک چې پر ځان باور لري، د نورو وستایلو ته اړتیا نه لري.

په کار کې تیروتنه، تیروتنه نه ده، بلکې عبرت دی.

له خلګو لرې ژوند وکړئ، چې څوک په تاسو ظلم ونه کړي او مه نور پریږده چې په چا ظلم وکړي.

مینه باید نیکمرغي راولي نه ناروغي.

مینه لوړه مرتبه ده، چې هر څوک یې غوښتونکی دی.

هغه سترګې چې مینه تل د اوښکو غسل ورکوي، هغه تل پاکې او ښایسته ښکاري.

ولاړې اوبه شئ چې د ستورو عکسونه په خپل ځان کې ووینئ.

ژوند یعني دایمي پلټنه.

طبیعت د خدای جلاجلاله هنر دی.

د نورو د نیکمرغۍ لپاره د هغوی له هیلو خبر شئ.

مین یعني خپله نیکمرغي د بل د نیکمرغۍ سره شریکول.

که څوک تل مینه وکړي او خوند ترې واخلي، شاید ځوان پاتې شي.

زړور اوسئ چې له حقیقت سره مخ شئ.

هغه څه چې په نړۍ کې د انسان لپاره ډیر مهم دي، هغه په راستۍ د خپلې دندې سرته رسول دي.

د کار مهمه برخه د هغه پیل دی.

د حقیقت قبلول د حقیقت له بیانولو ګران دي.

یوه مور له سلو اوستادانو غوره ده.

څوک چې رینتني خبري نه کوي، هغه پټ شیطانان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم تر ټولو قوي وسیله ده، چې تاسو کولای شئ ددې وسیلې په واسطه په نړۍ کې بدلون راولئ.

د زده کړو هدف د علم پرمختګ او د حقیقت خپریدل دي.

د نورو لارښوونه زما د بریالیتوب عوامل دي.

یوازینې خلک چې د خپلو خدمتونو په بدل کې د مننې او کوروداني تمه نه لري، هغه مور او پلار دي.

که غواړئ چې د انسان شخصیت او کریکټر وازمایئ، نو صلاحیت او امتیاز ورکړئ.

سیاست یعنې د هرچا سره د هغه په ژبه ږغیدل او د هغوی پاملرنه او زړه ترلاسه کول.

ناپوه مه وژنئ، ناپوهي یې ووژنئ.

نیک کار کول په پیل کې ستونزمن، خو په پای کې اسان او د خوښۍ وړ ګرځي، مګر بد کار په پیل کې اسان، خو وروسته خواشینوونکئ وي.

د ویاړ ژوند که یوه ورځ وي، خو د بې نومۍ له سلو کلونو ژونده غوره دی.

مهمه نه ده چې ښکلی واوسې، ښکلا داده چې مهم اوسې حتی که دیوه کس لپاره هم وې.

په خپلو شکونو باور مه کوه، او په خپلو باورونو شک مه کوه.

هغه دولت چې فکري قوت ونه لري، مجبور دی چې ظالم واوسي.

اخلاقي اصول هغه څه نه دي چې له بهر څخه وتپل شي، بلکې یوه باطني څلا او زموږ په زړونو کې د قضاوت دستګاه ده.

ددې پر ځای چې یو بل ته دلیلونه وړاندې کړو، ښه به داوي، چې په ګډه د عقل زده کړې ته لستوڼي رابډ وهو.

په ازموینه کې بریا پرته له پرله پسې تمرین څخه لاس ته نه راځي.

له حده ډیره مینه سل په سلو کې ګواښ دی.

هغه خلک چې ډیرې وعدې نه کوي، هغه په وعدو ولاړ خلک دي.

افراط د ژوند بار درنوي.

له زیږیدنې او مړینې څخه تیښته نه شي کیدای، پکار ده چې ددغو دواړو ترمنځ له پرتې فاصلې څخه خوند او پند واخلو.

د بخت په زور حکومت ته رسیدل اسان دي، خو دواکمنۍ ټینګول ګران دي.

ثروت یوازینی مذهب دی، چې ټول یې پیروان دي.

که تیر ژوند ته غور وکړو، نو معلومه به شي چې څومره ښکلې وختونه مو له لاسه ورکړي دي.

بیړه په هر کار کې ناسمه ده، د یو شي یا یو چا په اړه قضاوت کې بیخي ناسمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړتیا نشته چې هر سړی دې لوی سړی وي، دانسان لپاره یوازې انسانیت بسنه کوي.

د انسان عظمت په دې کی دی، چې پوهیږي مړ کیږي.

که غواړئ چې پر نړئ حاکم شئ، نو عقل پر ځان حاکم کړئ.

دنیا ته ټول رینتیني راځي، خو ټول له دنیا څخه رینتیني نه ځي.

نالوستی خلک د صورت سترګې لري، خو دبصیرت سترګې نه لري.

ځلور ځیزه مه ماتوئ: باور، زړه، وعده او اړیکه ځکه ماتیدل یې غږ نه لري، خو ژور درد لري.

که یو ملت تر خپلې ازادئ بل څه ښه او مهم وګڼي، نو هرڅه به له لاسه ورکړي.

ای مغروره انسانه! ته تر اسمان لاندې د لږ قدرت د پیداکولو لپاره په خاطر داسې څه کوې چې پرېښتې ژړوې.

یو بې معنا او ناممکنه هیله له لاسه ورکول، پخپله یو ستر بریالیتوب او پرمختګ دی.

کله چې قومونه له فکر کولو څخه محروم شي، تباه کیږي.

جدیت هدف رالنډوي.

د بشر ترټولو غټه بدبختي داده، چې نیکمرغي په ډیرو ستونزو لاسته راوړي او ډیر ژر یې له لاسه ورکوي.

ددې لپاره چې خپل انسانیت وپیژنو، لومړئ باید خپل حیوانیت وپیژنو.

احتیاط حتی په احتیاط کولو کې هم لازم دی.

مالګه غذا خوندوره کوي او شوخي ژوند، خو په دې شرط چې هیڅ یوه له اندازې زیات نه شي.

څوک چې د عبرت اخیستنې قدرت او قابلیت ونه لري، هیڅکله به پرمختګ ونه کړي.

کامیابي دوه وزرونه لري، یو اختیار او بل احتیاط.

یو انسان د مینتوب لپاره یوې شیبې ته، خو د هغو لپاره یوه عمر ته اړتیا لري.

فقر او بې وزلي نر جنایت ته او ښځه و فحشا ته هڅوي.

بدبخته هغه کسان دي، چې په خپلو وړتیاوو باور لري.

هغه کسان چې ځان نه شي ادراه کولی، نورو ته لاس په نامه ولاړ دي.

په هغه ځا یسې مه ژاړه چې ستا د اوښکو په ارزښت نه پوهیږي.

جعلبه ده! هغه خلک چې میرانه نه لري، ډیری وخت د میرانې لاپې وهي.

احتیاط وکړه او سالم پاتې شه، پریږده چې نور دې ډارن وبولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مؤرخ د تیر وخت لپاره ژوند کوي، شاعر د اوس او فیلسوف د راتلونکې لپاره.

هوښ او فکر په کارولو سره سمیږي، نه په کارولو سره کم او ړندیږي.

وخت ضایع کول د هغو خلکو طریقه او سلیقه ده چې د ژوند لپاره مصلحت او تدبیر نه لري.

ماته ووایه چې څه هیله لرې، ترڅو ویوهیږم چې څنګه سړی یې.

هیله او هڅه لازم او ملزوم دي، څکه له هڅې او کوښښ پرته ټولې هیلې په ناهیلی بدلیږي.

ټول خواږه خوښوي، مګر ټول له یوبل سره ترخه کوي.

شک د تصمیم دښمن دی.

که هر انسان په خپلو کارونو قضاوت کولای، نو اصلاً به قاضیانو ته ضرورت نه وای.

که چیرې موږ سولحه نه لرو، دا به مو هیره کړي وي، چې موږ له یو بل سره تړون لرو.

د مور مینه، ښکلا، وفاء، ارام... هیڅ یوه ژبه نه شي بیانولي.

په ډیرو وضاحتونو وخت مه ضایع کوئ، خلک یواځې هغه څه اوري چې اوریدل یې غواړي.

د پرمختګ لپاره تر ټولو غوره لار د خپلواکۍ لار ده.

ما چې یوه ورځ کتاب ولوست ټول ژوند مې بدل شو.

فکر مو بدل کړئ ترڅو به نړئ کې بدلون راولئ.

که کولای شې له خلکو سره مرسته وکړه، که نه یې شې کولای، لږ ترلږه، خو زیان مه ورسوه.

کتابونه دروح هینداری دي.

د انسان لومړی دنده داده چې د ځان په اړه فکر وکړی.

یوازې مړی دی، چې د جنګ پای یې ولید.

څوک دریښتیا په ارزښت نه پوهیږي هغوی ته ریښتیا مه وایئ.

زما په ملګرو کې ترټولو ښه ملګرې هینداره ده، چې ژاړم راسره ژاړي او چې خاندم راسره خاندي.

ایمانداري یو قیمتي ډالی ده، له ناوړو خلکو یې تمه مه کوئ.

هیڅکله شاته مه ګوره، له هیلو سره مخ پر وړاندې ځئ.

ژوند یو ځل وي، که یې په سمه توګه تیر کړو دا یوځل مو بس دی.

یو ښه کتاب د سلو ملګرو ارزښت لري، خو یوښه ملګری بیا د یوه کتابتون هومره ارزښت لري.

چیرته چې باور نه وي هلته خبری بیځایه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون د ژوند قانون دی، څوک چې یوازې اوسنۍ وخت ګوري، راتلونکی له لاسه ورکوي.

د نړۍ ستونزه داده چې هوښیاران یې په شک کې ډوب دي او کم عقلان یې باوري دي.

هغه خلک چې ګوډ ګوډ روان وي، په هغو کسانو ملنډې وهي چې په لاره سم ځي.

دا یو ناوړه حقیقت دی، چې موږ تل د جنګ په تکرار سوله راوستل غواړو.

ښه ملګری هغه دی، چې په هرڅه دې خبر وي، خو بیاهم درسره مینه کوي.

هیڅ شی ښکلی کیدای نه شي، چې ریښتینی نه وي.

کوم شیان چې لیدلی شي، ریښتیني دي.

ښه کتاب هغه دی، چې درنه وپوښتي مخکې دې څه زده کړي.

بې له زده کړې ازادي تل په ویره کې وي او له ازادۍ پرته زده کړې بې مقصده وي.

که څوک غواړئ، چې په نړۍ کې تغیرات راولئ د خپل شخصیت نه یې پیل کړئ.

ریښتیني خندا به دې ددې جوګه کړي چې د خپل درد سره لوبې وکړې.

چاچې تیروتنه نه ده کړې، هیڅ نوښت یې نه دی کړی.

ځنډ دوخت غل دی

د سولې لپاره جنګ داسې دی، لکه دعدالت لپاره جرم سرته رسول.

زه هیڅ چاته بې ځوابه پاتې شوی نه یم پرته له هغه نه چې رانه یې پوښتي دي، ته څوک یې؟

مینه ړنده نه ده، بلکې بخیلي ړنده ده.

په ژوند کې درې شیان تلپاتې وي، بدلون، خوښه او اصول.

هیڅ کله د هغه څه په اړه سوالګر مه جوړیږئ، چې د ګټلو وسه یې لرئ.

که له تیر سره خدای په اماني نه شي کولای، نو راتلونکې ته هم هرکلی نشې ویلی.

باور د زړه دننه علم دی.

ټول شرایط موقتي دي او هیڅ شی په خپل پخواني شکل سره باقي نه پاتې کیږي.

ستاسو ژوند یواځې په چانس سره نه خلاصه کیږي.

په یاد ولرئ: خدای جل جلاله موږ تصادفي نړۍ ته نه یو راوستي.

کامیابي یعنې: توانایي+ ماتې نه منل+مبارزه.

څومره چې مهربانه ووسئ، هغومره به د خوشحالۍ او بهترۍ احساس کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې له دې چې خوښي او خوشحالي تجربه کړو، لازمه ده چې دغم او ماتم په معنا وپوهیږو.

کله چې په کوم کار لاس پورې کوې، نو د شک دروازې په بشپړ ډول وتړه.

د هدف تعینول، د موفقیت د دروازې کلي ده.

ستاسي ارزښت له دې څخه زیات دی، لکه څنګه چې یې تصور کوئ، صرف مشکل دادی، چې تر اوسه پورې تاسو ته داحقیقت چا نه دی ویلی.

له عمل پرته فکر هیڅ معنا نه لري.

په خپل ځان، خپل سرنوشت او خپل خدای(ج) باندې باور ولره.

ترڅو یو کار شروع نه کړئ، ستاسو په ژوند کې به هیڅ بدلون رانه شي.

هر کار چې دې پیلاوه پای ته یې رسوه، کوم کار چې پای ته نه شې رسولی، نو پیلوه یې هم مه.

زموږ ذهني تصورات، زموږ هدفونه ټاکي.

اوچت فکر وکړه، ترڅو اوچت واوسې.

غښتلي خلک مخکې له دې چې هدف ته ورسي، د خپل زړه په ایینه کې ځان غښتلیویني.

فقیرانه او حقیرانه فکر، درڅخه حقیر او فقیر جوړوي.

هغه څه چې د زړه له تله یې غواړې، ژوند به یې دروبخښي.

زموږ ترټولو ستره اشتباه داده، چې هر وخت له اشتباه کولو څخه وډار شو.

څوک چې اشتباه نه شي کولی، هغه هیڅ نه شي کولی.

چیرې چې په ورکړه او خیرات کې له پیسو جیبونه تش شي، نو د خوشحالی نه زړه ډک شي.

څوک چې پوښتنه کوي، تر پنځو دقیقو پورې ناپوه وي او څوک چې یې نه کوي، همیشه ناپوه پاتې کیږي.

هره ورځ له خوبه داسي رابیدار شه، لکه دوهم ځل چې راژوندی شوی وې.

پریږدئ چې کارونه مو یو راز پاتې شي، یوازې یې نتیجې خلکو ته وروښیئ.

خزانه ستا په وجود کې ده، په نورو ځایونو کې د هغو په لټه مه ګرځه، قصرونه اوپلونه پردئ افساني دي، ته باید په خپل وجود کې پول ورغوې اود خپل غظمت قصر ته پرې لار پیداکړې، قصر دلته دی او خزانه همدلته!

له رنځ څخه ویره، یخپله له رنځ نه ډیره بده ده.

چاچې ویره او ډار نه وي لیدلي، هیڅکله به زړورتیا زده نه کړي.

ژوند همدا واړه شیان دي، که چیرې په ډیرو لویو شیانو پورې زړه وتړې، نو ژوند به دلاسه ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه چې په دې نړۍ کې له لاسه ورکړې، دهغو معادل یا تر هغو بهتره به درکړل شي.

سبا ته... که ورځ راغله... که ورته برابر شوم... داتولې پلمې له ځانه وغورځوه، همدانن داسې ورځ ده، چې یو مهم کار پیل کړې.

هغه څه چې په خوښۍ اوخوند سره زده کوو، هیڅ وخت له یاده نه وځي.

هغه څه چې پخپله یې نه ترسره کوې، نورو ته یې هم زده کړه مه ورکوه.

د موقیت لپاره همیشه له آرامۍ او احتیاط نه کار واخله، څوک چې ډیرځي، ورځي.

د غلطۍ ځواب په غلطۍ مه ورکوه.

څه چې دې زده وي، هغه ټول مه وایه.

که چیرې ته له کومې اشتباه سره نه وې مخ شوی، معنا یې داده، چې کوم وخت دې پوره تلاش هم نه دی کړی.

په هرچا باندې اعتماد کول اوپه هیچا باندې اعتماد نه کول، دا دواړه له ماتې اوشکست سره برابر دي.

د نورو د عیبونو لټول، زموږ ترټولو لوی عیب دی.

لوی فکرونه، لوی هدفونه منځته راوکړي، او واړه فکرونه هوسونه منځته راوړي.

که هرڅه شي، نو هیڅ شی به نه شي.

زه کړېږم، خو ماتیږم نه.

ترټولو لویه تراژیدي او غمیزه داده، چې موږ له ژوند څخه درس وانه خلو.

بدبخت هغه دی، چې بدترین شی د بهترین شی په نامه پیژني.

خطاء او اشتباه کول یو انسانې خاصیت دی، مګرپه هغو اصرار شیطاني خاصیت دی.

ناپوهي د ذهن شپه ده، داسې شپه چې نه سپوږمۍ لري او نه ستوري.

قهر اوغوسه هغه باد دی چې زموږ د ذهن څراغ وژني.

یوه د قیقه په قهریدل، د شپږسوه ثانیو خوشحالۍ له لاسه ورکول دي.

په هرشي کې جرأت کولو ته جرأت نه وایي.

همیشه په کرارۍ او ارامۍ سره فکر کوئ، مګر په تیزۍ او سرعت سره عمل کوئ.

سکوت د خبرو اترو ترټولو ستر هنر دی.

ته د شرایطو مخلوق نه یې، بلکې شرایط ستا مخلوق دي.

زیاتره خلګ ځکه فرصت له لاسه ورکوي، چې کار ته د یوه سخت کار ګومان کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپګان ته ځان مه تسليموه، ځکه پرون په يوه مصيبت اخته شوې اونن ورځخه مصيبتونه جوړ شول.

موږ په يوه لاس مشکل جوړوو او په بل لاس يې له منځه وړو.

شرم د ټولو نيکيو کلي ده.

د غم بهترين علاج دادی، چې ياهير شي يا قبول.

خوشحالي د ژوند کوم خاص حالت نه دی، چې هغه په لاس راوړو، بلکې د ښو لحظو يوه مجموعه ده.

له جهنمه ويره په خپله جهنم دی، اوجنت ته اميد په خپله جنت دی.

پرون نور د تاريخ يوه برخه شول.

انسان د هر کار لپاره دوه دليله لري، يوښه او دلچسپ او بل حقيقي او واقعي، مګر واقعي دليل عموماً پټ ساتل کيږي.

خزانه او ويرانه دواړه ستا په وجود کې دي.

سړی له اعمالو عادل شميرل کيږي، نه له ايمان څخه.

هغه څوک چې د کوچني شي په قدر پوهيږي، سترشيان به لاسته راوړي.

د موفقيت لار د ناکاميو څخه تيريږي.

مينه يوازې په مينه کولو سره زده کيږي.

ته نه شي کولی د طوفان دريدو ته منتظر پاتې شې، ته بايد په باران کي کار کول زده کړې.

په دې اقرار وکړه چې پرون دې خطاء وکړه، ځکه دا ددې معنا لري چې نن هوښيار شوئ يې.

که هميشه پرخلګو قضاوت کوې، نوله هغو سره دعلاقې لپاره نور وخت نه پاتې کيږي.

که چيري تغير ونه کړې، پس پاته کيږې.

کله چې ټوله له تاسره همفکره شول، نو هغه وخت وپوهيږه چې اشتباه دې کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**